د افغانستان ويب پاڼه
خپلواکه ناپيلې، ټولنيزه او فرهنګي خپرونه

# وروستی فصل

Ketabton.com

## لنډې کيسې

لنډې کيسې

ليكوال: ګل رحمن رحماني

۱۳۸۹ لمريز

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د کتاب ځانګړتیاوې:

د لیکي نوم: وروستی فصل
لیکوال: ګل رحمن رحماني
مبایل: ۰۷۹۹۳۵۱۰۳۵
برېښنالیک: mohammadg67@yahoo.com
کمپوزګر: ګ، رحماني
ډیزاین: صادق الله صادق
خپرندوی: ګودر خپرندویه ټولنه
چاپ شمېر: ۱۰۰۰
چاپ کال: ۱۳۸۹
انترنیت خپروونکی: اجمل اکبري

د چاپ حق له لیکوال او خپرندویې ټولنې سره خوندي دی

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحیم

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ډالۍ

دپښتو داستاني ادب دوو ستورو
استاد سعدالدین شپون او استاد اسدالله غضنفر ته!

رحماني

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لیکلړ


| ګڼه | سرلیک | مخګڼه |
|---|---|---|
| ١ | خپلې خبرې الف | |
| ٢ | دولسمشراند یښنې | |
| ٣ | وه دتوروغروشپونکیه | |
| ٤ | مزدوري | |
| ٥ | وه شینوارې ماما | |
| ٦ | غوګو | |
| ٧ | سپین دېوالونه | |
| ٨ | دسیندناوې | |
| ٩ | دځنګل ماران | |
| ١٠ | عبدل کاکا | |
| ١١ | بې وطنه | |
| ١٢ | شهزاده | |
| ١٣ | وروستی فصل | |
| ١٤ | زنداني | |
| ١٥ | کتیبه لیکونکی | |
| ١٦ | دزخم ننبه | |
| ١٧ | په زندان کې زېړېدلی ماشوم | |
| ١٨ | له وینې ترمینې | |
| ١٩ | وړانګه اونکریزې | |
| ٢٠ | دهدیرې شپه | |
| ٢٠ | په وینو لمدې تابلوګانې | |
| ٢١ | په اوښکو لمدې تابلوګانې | |
| ٢٢ | وړانګه اونکریزې | |
| ٢٣ | دهدیرې شپه | |
| ٢٤ | د وروستي فصل یو څو پاڼې... | |

(c) ketabton.com: The Digital Library

# خپلې خبرې

درنو لوستونکو !زه نه غواړم په خبروکې خبرې راوباسم او په کیسوکې کیسې جوړې کړم هغه څه چې تاسې یې لولی دنوم په له اړخه وروستی فصل دی خو په کې راغلې لنډې کیسې زما لومړۍ هغه دي د دغه کیسو سوژې مې په کلي کې چې دلېسې زده کوونکې وم پیدا کړې وې او دځینو دلیکلو ناکامه هڅه مې هم کړې وه خو کله چې پوهنتون ته راغلم نو دکیسې له لوستلو وروسته مې ولیکلې او تاسې ته یې وړاندې کوم زه دانه وایم چې په تول پوره کیسې مې لیکلې خو لږترلږه دداستاني ادب دیوه مینه وال دډالۍ په توګه یې قبولې کړئ او بیا مشورې راکړئ چې تردې ښې کیسې ولیکم.

داهم بایدووایم چې دغه شل کیسې مې دراډیو اونتې له لارې تر اوریدونکو او لوستونکوهم رسولې دي او اوس خوشحاله یم چې په کتابي بڼه یې هم دررسوم.

په تلوتلوکې دګودرخپرونديي ټولنې له درانه مشرا وملګري عزت الله ځواب دخپل ګران ملګري قاري صیب قدرت الله تائب نه چې دوروپه څېړراته ګران دی مننه کوم چې زما دغه کتاب هم زما دنوورکتابونو په څېر تاسې ته درسوي او تل یې لیکلو ته هڅولی یم ، له زلمي کمپوزراوکشرلیکوال صادق الله صادق نه مننه چې ددې کتاب کمپیوټري چارې او پوښتی یې په خپلوهنرمندوګوتو جوړه کړه له درانه مجیب الرحمن احساس نه چې دغه کیسې یې یوځل بیا ولوستې او څه یې وربانډې ولیکل له تاسې درنو مننه چې زما دوروستي فصل پاڼې اوړوی.

ګل رحمن رحماني

جلال اباد ، دصفاراډیو دخپرو مدیریت

۱۳۸۸ دکب اوومه

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ولسمشر اندیښنې

د ګل خانې ماڼۍ نن سهار هم په همغه پخوانۍ شان شوکت ولاړه وه نرۍ شمال لګېده او مرغانو شورماشور جوړ کړی وو ، توتکۍ به نږدې راغلې خو چې کله به یې د ماڼۍ په رنګینو پردو او ښېښو سترګې ولګېدې بېرته به د شنه اسمان په لور والوتې او د نورو توتکیتو په سیل کې به ورګډې شوې د سهار لمر هم د ورېځو په جال کې راګیر وو او رڼایې پیکه کړې وه ولسمشر د نورو ورځو خلاف په اوږدو چرتونو کې ډوب وو او د ماڼۍ په یوه اوږده دهلېز کې یې د سرو قالینو لپاسه قدم واهه د ماڼۍ له کړکیو یې وړاندې غرونو او کله هم خپلو قدمونو ته کتل د هغه په څېره کې کله هم دومره اندیښنې نه وې راټولې شوې ، خپله هم نه پوهېده چې نن یې ولې فکرونو ګډاووډ دي او د اندیښنو سېلاب په مخه کړی دی د تالار یوې لویې کړکۍ ته ورغی غوښتل یې چې کړکۍ خلاصه کړي خو توتکیو شور ماشور جوړ کړ او په کړکۍ راغونډې شوې د ولسمشر لاسونه ولړزېدل او څو قدمه شاته شو په څیرڅیریې توتکیو ته وکتل او په تندي کې یې د قهر ګونځې وغځېدې له ځان سره په خبرو شو

واه واه اوس.....

اوس توتکۍ هم راته غوصه دي ما اخر له دوی سره څه کړي د دې ماڼۍ هره برخه د دوی کور دی بیا غلی شو

هـــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــو...

خی دوی ولې دلته ځالې نه جوړوي پخوا خو به د دې ماڼۍ هره برخه او چت د دوی له ځالو ډک وو خو اوس یوه توتکۍ هم دلته ځاله نه جوړوي ما اخر دوی سره څه کړي؟

خپلـــه قـــره قلـــي یـــې پـــه لاس کـــې وا خیـــسته یـــوه مـــلازم تـــه یـــې ورغږ کـــړ بچیم اینجه بیا....

وړانـــدې ولاړ مـــلازم پـــه لړزېـــدلو قدمونو د ولسمـــشر مخکې ســـلا مـــي وولـــه

ولسمشر په خندنۍ لهجه ورته وویل

دا توتکۍ اوس ولې دلته ځالې نه جوړوي ؟

د ملازم ژبه بنده بنده شوه پا س چت ته یې وکتل او زیاته یې کړه

صیب.. صیب...موږ خو هېڅ نه دي ورته ویلي

ولسمشر غوصه شو نو بیا ولې نه راځي زر که ځواب راکړه

ملازم سرښکته واچولو او زیاته یې کړه

ص.ص..ص...صیب......

د ګلخانې د سا تونکو مشر وایي چې د ماڼۍ رنګ خرابوي داځل موورته معماران له اروپانه راوستي وو ډېره قېمته یې رنګ کړې روپۍ یې تر اوسه پاتې دي.....

د ولسمشر غوصه سړه شوه پـه تـالار کې وړاندې روان شو او همغسې پـه فکرونو کې ډوب وو ، پـه کړکیـو کې ایښې ګلدانونه یې یو یو له نظره تېر کړل چې مړاوي غوندې ولاړ وو او غوټیو یې له ده نه د لمر خاتـه خواتـه مخونـه اړولي وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ولسمشریوه نوې غوړېدلې ګل غوټۍ راونیوه مخ یې دځان خواته راتاووکړ او له دې سره غوټۍ ماته شوه ولسمشرغوټۍ لاندې وغورځوله او یوځل بیا له ځان سره په خبروشو. اوهو...اوس غوټۍ هم دتوتکیوپه څېر له ماخفه دي مخ رانه اړوي ما اخر څه کړي!

د کړکۍ پرده یې کش کړه هواته یې وکتل په هواکې توتکی په دایروي کړیو کې داسمان په لوري پورته کېدلې خپله څنګل یې دکړکۍ په څنډه کېښوده یوځل بیاد فکرونو په سیند لاهو شود خپل پلار هغه کیسې وریادې شوې چې په ما شومتوب کې یې ددغه ما نۍ په اړه ده ته په نقلونوکې کړې وې په خیالونوکې ډېر وړاندې لاړ و وریادشول چې په ماشومتوب کې یوه ورځ له خپل پلارسره دنوي کال په جشن کې دې ماڼۍ ته راغلی وو هغه وخت دغه ماڼۍ ټوله توتکیواودنورورنګارنګ مرغانوشورماشوپه سرا خیستې وه هرڅه په ناپایه خوښۍ کې ډوب وو دپا چاپه مخ هم دخوښیو څپې خورې وې دده پلارچې دپا چا نږدې ملګری وو دی پا چا ته وروست ده دپا چالاسونه ښکل کړل دپا چالاسونه له خوښۍ دومره ګرم وو چې شونډې یې ورباندې ګرمې شوې پا چا هم دی بې سارې ښکل کړ دده پلار پاچا ته ددوی دباغچې له ګلونو جوړه کړې غا ړکۍ ور وا چوله هغه وخت ټوله ما ڼۍ دولس له مشرانواوښاریانو ډکه وه له کلو نه هم خلک راغلي وو ، دی چې راته هېڅا هم تالا شي نه کړدما ڼۍ پیره دارانو هر چا ته د ګلو نو ګېډۍ ورکولې وسلې یې په ځمکه ایښې وې اوخلکوته یې غاړې ورکولې اتڼونه روان وو اودما ڼۍ په مینځ کې په پا چادګلونو باران جوړ وو ،هره خوادګلونو پسرلنۍ وږمې خپرې وې اودپسرلي لومړۍ ورځ لمانځل کېده ترغرمې پورې دپاچا تخت اوشاو خوا به دګلونو په ګېډیوکې پټه وه اوسندرغا ړودخوښۍ سندرې ویلې ټولې سندرې دپسرلي اووطن په اړه وې خو خلکو په بار بار له سندر غاړو غوښتل چې دپاچا په اړه سندرې ووايي ولسمشرچې په خیا ل کې تردې ځایه راورسېده ټکا ن یې وخوړ لاندې یې وکتل.

دښارنږدې برخې ورته ښکاره شوې په ټول ښارمایوسوونکې فضا خپره وه هلته وړاندې د سړک په غاړه څوسوالګرو ماشومانو لارویانو ته دسوال لاسونه نیولي وو یوه سپین ږیري خپل ماشوم زوی ترلاس نیولی وو اوهرڅوک به چې په مخه ورغلل دسوال لاس به یې ورته وراوږد کړ چا به ورته په لاس کې یوه سیکه درواچوله او څوک به ورنه هسې تېرشول سپین ږیری همداسې په سړک روان وو اوماشوم یې دلاسه نیولی وو یو ځای په پیاده رو کې لاره بلې غاړې ته ګرځېدلې وه بوډا ورتاوو شو خوپه دې وخت کې یوخړ رنګه فوځي موټر راښکاره شو بوډا یې د هارنډ له اوازه وډارشو په منډه له خپل ماشوم سره وړاندې ورغی خوموټریې مخې ته رارسېدلی وو د ډزو اواز اوچت شو او بوډا له ما شوم سره د سړک وړاندې غاړې ته پړمخې ولوېد ه.

ولسمشرخپلې سترګې وموښلې ټکا ن یې وخوړاوبېرته شاته شو دکړکۍ سره پرده یې کش کړه سریې په دواړولاسونو ونیوه چې له شانه چاورباندې غږکړ

جلالتماب ! وخت پوره دی

په جلسه کې ټول ستا سې انتظا رکوي

ولسمشرخپله قره قلي سمه کړه چپنه یې په اوږو پورته کړه اودیوې ډلې ترمخ د غونډو دتالار په خوا روان شو خوقدمونه یې یوهم په ځای نه لګېدل

۲۰۱۰ فبروري ۳ جلال ابادښار

(c) ketabton.com: The Digital Library

**وه دتوروغرو شپونکیه!**

د ژمي په يوه ساړه مازديگرموږټو ل دکلي دجومات په برنډه پيتاوي ته ناست وو
وړواولويانو ټولوله ځانونو گرم پټوگا ن تاووکړيوو اوگرمې کورتۍ يې په تن وې لمردنورووږخوپه خلاف
خوراتود وو خوغرونه اودرې له واوروداسې ډکې وې چې يوازې کږې وږې لارې اودوړاندې کروندوويالې
اولښتي دښامارانوپه څېرتورما لومېدل دجومات په برنډه دکليوالوشورزوږترنږدې کورونو ښه رسيده له
ټولوبامونوخړدودونه اوچتېدل اوله دود کشو شني لوخوړې تاو بدې
دباغونواوکروندوپه لغړو ونوکې دکارغانواوازونه اوچتېدل په برنډه ناست کليوال هرڅوک په خپلوکې
لگياوو چاقطارچادولس بچي کو ل وړاندې ځوسپين ږيرودڅارويوپه ناروغۍ خبرې کولې خوکله چې به
دملاصا حب دراتلوغږشوټول ناست کليوال به داسې غلي شول لکه دمرغانو په سيل چې باښه ورگډشي
خودملاصاحب په ځای به چې بل څوک له جوماته راووتل بيابه هم هغه شورماشورجوړشو
گلاب اکابياددي هرڅه نه بې پرواخپل فکرونه کول ښی لاس يې په تندي دچترۍ په څېرنيولی وواوسترگې يې
د مخامخ غره لوړو څنډوته نيولې وې چې سيليويې له سره وا ورې الوزولې اولمرته دهنداري په څېرځلا
دهرچاسترگوته رسېده يوازې لوړکمرونه غرني ونې اودبوټوسرونه له واوروراوتلي ښکارېدل گلاب اکا هم
ښايي دنورروما لداروکليوالوپه څېردې ته خفه وو چې څه وخت به له غرونو او غونډيو واورې والوزي اودهغه
دوږومېږواووزورمه به د څر لپاره ووزي
گلاب اکا همداسې په فکرونوکې ډوب وو چې نا څاپه يې په برنډه ناستوکسانو ته سترگي ورواړولې اوپه
لوړاوازيې وويل هاغه وگورئ!
هغه...ليونی لکه چې کوم نابلده دی... هلئ ټولو وازې خولې دگلاب ا کا خواته په حيرانۍ وکتل هغه له ځايه
اوچت شو اوگوته يې دا شارې په دود دمخامخ اوچت غره سرته ونيوه
هغه په واوروکې بند بنياد م درته يادوم دمخامخ غره په سريوانسان چې په سيوري کې دما شوم په
څېرښکارېده په واوروکې ترگونډوپورې پټ وو اوپرلپسې تنديکونه يې خوړل.
گلاب اکا يودوه قدمه وړاندې واخيستل اوبياپه خبروشو
هلکا نوکوم نابلده مسافردی زمونږکوم کليوال کله هم په دې وژونکې لاره نه راځي که يې پښه خطا شوه
کندوته لوېږي اويابه هم سيندته اوکه دانه وي نوکوم برف کوچ ضرور پرې را ځي دې اجل نيولي ته زمونږاوازهم
نه ورسيږي تاسې درې څلورکسه په منډه ورشی که موبچ کړلوی ثواب به موگټلی وي هلئ بيړه وکړئ
څلورکسا ن چې لو يې موزې يې لرلې پټوگا ن له ځانه تاو کړل اوپه منډه دغره په لور روان شول.
دما ښا م له جمعې وروسته ټول کليوال په جومات کې دتبۍ په سرراغونډ وو اوهغه پنځلس کلن هلک ته يې
کتل کوم چې يخ کرخت کړی وو دخبروتوان يې نه درلود خوهرچاته يې حيران حيران کتل لکه چې کوم خوب
گوري گلاب اکا پرلپسې چاپي کولو د گرموشيدواوچايوغوړيونه يې ورکول کليوا ل چې د نااشنا هلک له
خبروکولونا هيلي شول ټول خپلوکورونوته ولاړل په ټول کلي کې د دغي نا ا شنا هلک دراتلوکيسه خوره شوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په جومات کې یوا ځې ګلاب اکا او ملاصا حب له هغه سره پاتې وو په کلي کې د پخې شپې تیارې مخ په خورېدو وې چې د جومات ګرمې هوا هلک له کرختوالي رابهرکړاو په خبرو راغی
هغه خپل نوم اسلم وښود دیوې غرنۍ سیمې او سېدونکی و وویل چې یوه اوني وړاندې یې مورمړه شوې ژوند یې په کورکې تریخ ؤ د موریوزوی ؤ خود مورله مرګ وروسته یې پلار او میرې مور د کورخوشي کولو ته یې مجبورکړ.
اسلم چې په ښه اوبد پو هېد لی ؤ پلار یې شپني پرې پیل کړې وه دخپلې رمې ترڅنګ به یې د نورو خلکو مېږې اووزې هم په بیه ورته څرولې خو کله چې د هغه پلار خپله رمه خرڅه کړه او څوورځې پس د اسلم ناروغې مورد هغه د پلار تروهلو لاندې سا ه ورکړه نو د کوچني اسلم پاتې کېدل یې هم په کورکې بې ضرورته وبلل نو ځکه یې تېره شپه په سړو کې له کوره وشړلو

***

دادکلونو پخوا خبره ده او اوس د کلي په پخوا نیو کېسو کې را ځي اسلم په دوو ورځو کې روغ رمټ شو ډېرساده او نېک هلک ؤ حتی دخپل کلي او څو غرونو پرته یې بل ځای هم نوو لیدلی هغه نوردتل لپاره زمونږ د کلي شو د ژمي په موسم کې به یې د جومات خادمي کوله او په نورو موسمونو کې به یې په پورې درو اوغرونو کې د کلي رمه څروله ډېروبه له میني اسلمی هم ورته ویل، په کلي کې کورپه کوربلد ؤاو چا هم سترتري نه کولو ګلاب اکا بیا هغه څوک ؤ چې ترټولو په اسلم زیات مهربان ؤ
د ژمي په موسمونو کې به چې کله کلیوال د جومات په برنډه راټول شول نو اسلم ته به یې کلونه وړاندې د هغه دراتلو کېسه کوله چې څه ډول یوه ورځ د پورې غره په څنډه دوی لیدلی وو.
هغه څوځلې خپل کلي ته هم لاړ خو د هغه د پلار د کور څه پته نه وه د یوه خوړ په غاړه د دوی د کوریونړیدلی د یوال ولاړ وو نور هر څه سیلاب وړي وو ،په کرونده او یا په غره کې به چې اسلم هرچاته په لاس ورغی نو خوږه شپېلۍ اوسندرې به یې پرې غږولې کله به چې د کلي په پورې غرونو کې او یا د شنو خوړونو په غاړه د اسلمي د شپیلۍ اوازاو چت شو نو هرچا به ورته یوه شېبه غوږنیوه او د هغه توره لمرسېزلې څېره به یې په خیا ل کې وروګرځېده.
د کلي شپني چې هغه ته وسپارل شوه بیا نو نه چا د کومې مېږې یا وزې دورکېدو خبرواورېد او نه هم کوم کرونده ګرزمونږد کلي له لویې رمې نه د کلي سپین ږیروته شکایت وکړ.
اوس هغه پخوا نی اسلم نږدې د ډېرش کلن ځوان دی ډېرکم کسا ن به اسلمی په اسلم پېژني هغه اوس زمونږد کلي شاوخوا نورو کلوکې هم په شپونکې مشهوردی.
دده له برکته په تېرو پنځلسو ،شپاړسو کلنو کې د هرکلیوال له پنځو شپږو میږو بسته رمه جوړه شوې چې اسلمی یې په یوه سرپه غرونو او رغونوکې څروي ګلاب اکا بل په زړه پورې کارداکړی چې هغه ته د ټولو کلیوالو په مشوره په واده پسې ګرځي ترڅودده غوندې کومه بې نوا نجلۍ ورته په نوم کړي او کورې ودان کړي هغه وایي چې اسلمی په دوې حق لري چې د خپل بچي په څېرواده ورته وکړي.

***

داوړي په یوه ټکنده غرمه د کلي کروند ګرد ګلاب اکا د کروندو په څېره کې د ډوډۍ لپاره راغونډوو ټولو په لوړغږخبرې کولې او دټوکو ټکا لو غږونه ان ترکلي رسېدل ګلاب اکا د پورې غره په لورکتل او د ډوډۍ لپاره یې د اسلمي دراتلو انتظا رکاوه خو په وړاندې غرونو کې دالوتکو پروازونه اوډز اوډوزیې فکرخراب کړی وو کله به یې په کوم کلیوال غږکړ
والکه !پدې بمبارۍ کې خدای مکړه اسلمي ته څه زیا ن ونه رسېږي خو هرچا به په خندا ځواب ورکړې

(c) ketabton.com: The Digital Library

اکا شپونکې سړی دی څه اسامه خونه دی څه یې کوي په دې ورځ ترمازدیګره کروندو ته رانغی ماښام تیاره په خوربېدووه خو د رمې او شپونکې څه درک نه وو څو کلیوا ل غره ته پسې ورغلل نږدې نیمه شپه یې دیوې ژورې کندې ترڅنګ د سپوږمۍ رڼا ته یو ټپي ټپي لمرسېزلی جسد پیدا کړ شاو خوا مېږواو وزو شوراو زوږ جوړ کړی وو

۱۵ / ۱۲ / ۱۳

مزدوري

دجان محمد دکورنۍ ان له اوله زړه نه وو چې دی دې پو هنتو ن ووا یې ځکه چې د هغوی په کورنۍ کې له ده پرته بل داسې څوک نه ووچې دکورکارونه دې ترسره کړي او ترټولو مهمه داوه چې هغوی ته روزي وګټي خوجا ن محمد دخپلو همزولو او ټولګیوالو سیا لۍ نیو لی وو او بیا له لیسې نه هم دویم نمره فارغ شو پلا رته یې وویل چې کشر وروړخان محمد یې دومره دی چې ستا سره ځمکه کاله کړی شي بس نونوریې دراګرځولو څوک نه وو دکا نکورله پایلو اعلا نېدو وروسته څرګنده شوه چې د کابل پوهنتون دانجینرۍ پوهنځي ته دمحصلینو په اصطلاح په جګو سترګو بریا لی شوی دی

زده کړه یې دیو عالم اقتصا دي ستونزو سره پیل کړه دکورنۍ یې دومره توان نه وو چې ده ته هغسې دلګښت پیسې ورکړي چې د یوه محصل لپاره لازمې وي هغه مجبوروو چې دجمعې په ورځ په څلورلارې ته ووځي او دمزدورۍ لپاره له چا سره لاړ شي دا نجینرۍ پوهنځي دیوه محصل لپاره دا هم ډېره بده وي چې کمپیوټرونه لري خو جا ن محمد په څلورم ټو لګي ګې هم کمپیوټرنه درلود او دملګرو له کمپیوټرنه یې استفاده کوله داهرڅه له مجبوریتو نو سره یوځا ی تېرېدل د پنځم ټو لګي په لومړي سمسټرکې چې ټولې پایلې ا علا ن شوې نوا نجینرجا ن محمد په کې لومړۍ اوو ړا نګه په کې دویم نمره وه وړا نګې به ښا یې پیسې اووا سطې او یا هم ښایست درې وا ړه ددغه نمرې دکارولو لپاره کارولي وي خو دجا ن محمد په باب داسې کومې خبرې کول ګنا ه وه هغه هرڅه په خپل لیاقت ترلاسه کړي وو خوله وړانګې به دې چې دهغه په اړه وپوښتل نو په ټوکه به یې وپوښتل نو په ټوکه به یې زیاته کړه

دد هقا ن زوی او انجینري ! له خدای مې جار کړې یوه پیسه یې په جیب کې نشته او بیا اول نمره ګي کوي په او سنۍ زمانه کې یوازې عقل او لیاقت هم په دردنه خوري خونورو ټولګیوالو او یا هم دوړانګې ملګرو چې د جان محمد لیاقت ورته معلوم ووډېرځله دهغه په غربت پټې اوښکې تو یولې

***

د پنجشنبې ورځ وه دجا ن محمدپا م شو پیسې ورسره خلاصې شوې او دنوو چپټرونو لپاره یوه افغا نۍ هم نه لري کله چې دجمعې ورځ شوه سهارو ختي بیا دنورو جمعو په څېرد څلورلارې په خوا په خپل ٔپټو کې نغښتی روان شو په څلورلارې کې ګڼ مزدوران ولاړو هرچا دهغه کس په خوا کتل چې دکوم ما لدارګوما ن پرې کېد ه ګڼه ګونه دومره زیاته وه چې دودرېدو ځای هم نه په کې کېده چې په لومړۍ سرکې ډېرو مزدورانو دانجینرجا ن محمد په خوا کتل فکرېې کاوه چې کوم مزدورېې په کاردی خوکله چې هغه په خپله ددوی په مخکې ودرېده ټولو سترګې ترې واړولې یوه سپین ږیري خپل ملګري ته خوله جینګه کړه او بیا یې په سترګو کې جا ن محمد ته اشاره وکړه

دې هم مزدوري کوي ... ! کواره یې دمزدورنه ده لکه چې غلو وهلی حیران ولاړوو په موټرونوکې خلک راتلل او مزدوران یې له ځا ن سره بېول خو لس بجې به کېدې چې جا ن محمدلا همغسې ولاړ وو یوه اوبله پښه یې تکیه کوله نور یې زړه تنګ شو څوقدمه وړاندې لاړد سړک غاړې ته ودرېد څو دقیقې نه وې تېرې چې یوه توره

(c) ketabton.com: The Digital Library

کورلاو دربېده یو کس چې لوړه تنه او غټ وجود یې وو ورنه راکوز شو پلنه اوږده سپينه ږيره يې وه شمله يې شاته اچولې وه اوله رنګه یې معلو مېد ه چې ښه ارام ژوند لري په جان محمد یې غږ کړ

الکه مزدوري کوې ؟

جا ن محمد وروړاندې شو

هو نو څه د سيل لپاره ولاړيم

نورنو بې له دې چې څه ورته ووا یي په موټرکې شاته سپورشو پـه لارو یې ورتـه وویـل چې دکوردبرنډې ډکول غواړي ديو ې و رځې کارد ی

دجان محمدزړه ډاډه شو چې دومره سخت کارنه دی.

سړي په تلفون کې له چاسره خبرې کولې اولس شل دقيقې وروسته یې موټرد پا خه سړک پـه سریوه ښکلي کا نکرېټـې کـورمخ تـه ودربـده دمـوټر لـه هارنډ سـره دروازه خلاصـه شـوه پـه انګړکـې لـه ځوبرنډو او سـمنټي برنډو او شنو و سپنیزو پنجرو نه تېرشول درنګارنګ ګلونو ښکلې وږمه خوره وه جان محمد دکوټو نقشوته حیـران حيران کتل زړه يې ټينګ نه شو هغه کس ته یې مخ وروا ړولو

صیب دانقشه دې له کومه کړې ؟

سړی لږ غوصه شو ورته ویې کتل

وروره څه دانجينرغوندې يو ښتني کوې خپـل کـارکوه مـوږ دومـره وخت نـه لروجا ن محمد یو څه مایوسه شو هسې ماویل په ډېرکم مصرف اوکمه ځمکه کې جوړه شوې دسړي شونډې وغوړېدې

دامې لورجا نې اچولې اود هغې ابجاددی

وړاندې یوه بله دروازه وه له دروازې نه وړاند ې ننوتل ددریوځلوروکوټومخکې بيا هم همغسې پنجرې لګېد لې وې اوډول ډول ګلونو دسهار هوا ښکلې کړې وه دبرنډې پـه يـوه برخـه پنجرې لګېدلې وې اويـوه برخـه يې ژورې کندې ته ورته وه

سړي جا ن محمدته وکتل

ځوانه !له هاغه خاوروا وشګودبرنډې دغه ژورځای په لاسي کراچۍ ډک کړه اودغه...

لاخبره يې نه وه خلاصه کړې چې ز نګ ورته راغی یوه ښځینه نرم غږ وویل

پلارجانه دموټرکيلي راکړه مورجانه وايي آرايشګاه ته ځو سړي وخندل اوځواب يې ورکړ

ښه لورجا نې دمېلمستون ا نګرته راشه

جان محمد دکارجا مې اغوستې وې چې دمېلمستون دروازه خلاصه شوه يو ه نجلۍ چې سا لو يې پـه اوږو کې پروت وو راننوته سړي پرې غږکړ

وړا نګې لورې په دغه مزدورپسې تللی وم ماويل دابرنډه بده ښکاري

دوړانګې دنوم په اورېدو د جا ن محمدزړ ه ټکان وکړ چې راو یې کتل ددواړو خو لې وازې پـاتې شـوې خوجـان محمدزرښکته وکتل وړانګه یې پلارته ورنږدې شوه پلارجانه دا خو هماغه دی زموږ اول نومره ! ! !

۱۳۸۸ د نېکمرغه لوی اخترد ويمه ورځ

(c) ketabton.com: The Digital Library

وه شینوارې ماما!

په لومړیو دوه دریو ورځو کې دومره تنګ وم چې د شپې به خوب هم نه راته نه مې درسو ته زړه لګېده او نه مې یاران د خپلې خوښې وو ،موږ درې واړه د تا شکند ښار په زړه کې د خورشید په نامه لویه پلازه کې اوسېدو چې اکثره برخه یې د بهرنیو محصلینو لپاره وه او د لوست لپاره یې هر ډول اسانتیاوې لرلې.

د امام بخاري په پوهنتون کې دنړۍ له ګڼو هېوادونو په سلګونو محصلین د اسلامیاتو اقتصاد او ادبیاتو دزده کړې لپاره د تا شکند په خواراتلل له افغانستانه زه او زما ملګری شاه محمد یوازې تللي وو او هلته موپه نه زړه زده کړه پیل کړه له څوورځوورو وسته مو خپل یو بل هېوادوال سید ګلاب هم پیدا کړ هغه ډېرپخواراغلی وواوله قوارې نه نه پېژندل کېده کټ مټ دازبکانو غوندې ښکارېده ما هم هغه وخت وپېژنده چې کله یې په یوه غونډه کې خپل کارت د دروازې ساتونکي ته ښکاره کړاو ما یې په کارت کې نوم ولیده پوه شوم چې افغان دی کله مې چې ترې وپوښتل چې افغان یې ؟ نو په خوږه شینوارې لهجه یې ځان را معرفي کړ او د لین په سرراغاړې وت فکرمې وکړچې له مانه دې زیات زما په لید وخوښ شوی دواړه په غونډه کې یوځای کښیناستو د افغانستان او خپلو درسونو په اړه مو سره خبرې وکړې وروسته له دې ورسره ملګری شوم دریو واړو په یوه کوټه کې ژوند کاوه او د تا شکند له ښکلو منظرو مو خوند اخیسته هغه بلد وو او هره خوا به یې ګرځولو موږ به ورته یوازې شینوارې صیب وایه چې ښه ورسره اشنا شوو نوم یې شینوارې ماما شو هغه هم په دې چې یوه ورځ مو دیوه افغاني سندرغاړې سندره اورېده چې ویل یې

وه شینوارې ماما—ولې دې اېښې ده توبه

وه پرما مینه –ستا دیارۍ نه شته مزه

له پېژند ګلوی ، ملګرۍ او له دغه سندرې څو میاشتې تېرې شوې په ښاراوما حول کې بلد شوو او یوه شېبه هم یو د بله نه جدا کېدو خو کله په مو چې هغه ته شینوارې ماما وویل په رنګ کې به یې بدلون راغی او لږ به غوصه شو په شینوارې ماما موورو ورو مشهور کړ ماته به شاه محمد ویل چې دا نوم مه ورته اخله هغه بله ورځ مې لیدل چې څوتاشکند یانو هم ورته شینوارې ماما ویل له هغه نه ورو ورو د ګلاب نوم لرې شو او هرچا به په دې نامه بللو هغوی ته به که دا سندره هم نه وه معلوه خو دا نوم یې بې پوښتنې ورته اخیسته خوو روسته ګلاب هم را سره عادې شو یوه ورځ مې د کوټې په وره ولیکل چې د شینوارې ماما جونګړه کله چې راغی نو هېڅ یې هم ونه ویل زه پوهېدم چې له دې نامه سره یې عادت شوی خوزه نه وم خبرچې په دې نامه څومره خفه کېږي له هغه سره له ملګرۍ وروسته زمانه خپل هېواد هېرشو اودومره خوښ یې ساتلم چې ځان راته مسافر نه ښکارېده

کا شکي چې ما ته معلومه وی چې هغه په زړه کې په دې نامه څومره ځورېږي یوه ورځ ماز دیګر چې کوټې ته لاړم یوه ګاونډي محصل راته وویل چې شینواری ماما خپل کالي له کوټې یوړل او دغه لیک یې ستا په نوم راکړ په سترګو مې توره شپه شوه پاڼه مې پرانستله یوازې دا په کې لیکل شوي وو

ملګریه!

تازما خفګان درک نه کړ مانه غوښتل ستا نه د ساعتېرۍ وخت وا خلم خوزه غواړم چې نور بېرته ګلاب شم په ما پسې مه ګرځه تا سې ښه و ختونه ولری

خدای پامان !

سید ګلاب اوستا پخوانی خفه شینواری ماما

دلیک په لوستو مې ناڅاپه له خولې همغه سندره په لوړ اواز ووته

(c) ketabton.com: The Digital Library

وه شینواري ماما_ولې دې ابښې ده توبه
وه پرمامینه_ستادیارۍ نه شته مزه

په یوه شپه کې دمنزل دهلېزته په لسګونو کسا ن راووتل اوما ته یې حیران حیران کتل ځینې چې ډېرمصروف وو یوازې به یې دومره وویل چې
دېوانه شده !

اوبیابه بېرته کوټې ته ننوتل

څو جرګې مې په هغه پسې وا ستو لې او خپله هم غذرته ورغلم خو دخپلو ازربا یې ملګرو څخه بیا زموږ خواته رانه غی زه پوه شوم چې د هغه یوڅه عادتونه هم اوس ددې ځای دخلکو غوندې شوي اوس هرما ختسن په کوټه کې له مطالعې وروسته زه اوشامحمد همدغه سندره په لوړاواز چالانه کړواوترهغه یې اورو چې خوب نه وي راغلی دکوټې په وره مو لاهم همغه کاغذ راځړېدلی چې پرې لیکل شوي د شینواري ماما...خوجونګړه یې ورڅخه ورانه شوې ده اوشینواري مامادومر کلکه توبه ایستلې چې ترمرګه به یې هم ماته نه کړي.

غوګو

زموږ په د فترکې به چې یو ه شېبه هم ریس بلې خواته شواو یا به هم دومره موقع په لاس راغله چې په خپلو کې زموږپه اصطلاح ګف شف ولګو ونو بیا مو په بهادرصیب چې موږ په خپلو مینځو کې په غوګومشهورکړی وووردا نګل اودخنداګانو شوربه جوړشو همدا سې دچا یو یا ډوډۍ په مهال به هم دټولو دخبروموضوع هغه وو یوه به له ډاکتر میرویس نه وپو ښتل ډاکترصیب غټ غوږونه په انسا ن کې څه اهمیت لري ؟

ډاکترصیب که څه هم ترټولوزیات دخنداګوډۍ ووخوپه دې وخت کې به یې ځان دومره جدي کړچې ته به وا یې ریښتیا هم کوم ناروغ ته مشوره ورکوي

په نرمۍ به یې وویل

والله خبره داده چې دلو یوغوږونودخاوندا نوپه اړه خوتراوسه طب کومه څېړنه نه ده کړې خوپا ل کتوونکې و ایې چې د لویو غوګونو خاوندان ډېر بختورکسان وي هېڅ ځای یې کارنه بندېږي خوکله به چې نورله خندا دټینګې نه ووډاکتربه جدي شو

په دې کې دخنداڅه خبره ده ولسمشرکرزی هم نام خدا ښه لوی لوی غوږونه لري څنګه په مفتوکې ولسمشرشو دغوګونه به چې نوروارپا رخطاوونو موسک به شو

اویوازې دومره به یې وویل

هوکنه ډاکترصیب سمه خبره کوي تاسې پاتتونیان او ما تر نهمه مکتب ویلی خو دادي ستاسې نه لوړمعاش اخلم دټاکنوپه دغه دفترکې موږ ټول داسې کسا ن وو چې د پېژندنې اوملګرۍ سا بقه مودومره اوږده نه وه بس هغه دچاخبره حالاتو سره یوځا ی کړي وو دبېلګې په ډول خپله غوګو دکند هارولایت اوسېدونکی وو چې په کابل کې یې دټاکنوپه دفترکې دنده اخیستې وه ، داکترمیرویس دطب پوهنځي دوروستي کا ل محصل اواوس یې رخصتي وه ،زه خبریال وم اوپه خالي وختونو کې مې ددفترخبرپا ڼې ابډېټ کولې همدا سې احمد زبیر دمعا ملاتو لاربښود دفتر درلود سبحان الله بیا دپوهنې وزارت ماموروو خویو وخت یې په کوم بل دفترکې له ریس

(c) ketabton.com: The Digital Library

صیب سره پېژند گلوي شوې وه او اوس یې نرغو ندې دوه دندې ترسره کولې خود مجلس ما لګه مو یوازې غو ګو و.

کو مه ورځ خبره ان ترریسه رسېد لې وه کیسه دا سې وه چې یونوی ملازم مو نیولی وو زمو ږ له خولې یې غو ګو غو ګو اورېد لي وو فکر یې کاوه چې د هغه نوم ریښتیا هم غو ګو دی یوه ورځ بهادر کوم مکتوب ورکړی وو چې د ریس دفترته یې یو سي خو کله چې ریس ته ورغلی وو نوورته ویلي وو چې مامور غو ګو صیب را کړ

ریس غوصه زمو ږ دفترته راغی او د غو ګو پو ښتنه یې وکړه لو مړی غوصه وو خو کله چې پوه شو نو بیا له خندا نه ټینګېد ه دا یې هم پسې زیاته ګړه چې زه کله د بهادر دفترته ځم نو ماته یې شاوي خو اول یې غوږونه راته ښکاري

یوه ورځ ملازم دا خبار په لو ستلو بوخت وو او جالبو معلوما تو پانه یې راا ړولې چې نا څاپه یې را منده کړه او غو ګو ته یې اخبار ور کړ

غو....وبښی بهادر خانه ته دغه مطلب وګوره

غو ګو په غوصه د اخبار پا ڼې وویله خو اخبار یې د ملازم په مخ وویشت

ما چې اخبار را پورته کړنو نیمه پاڼه مطلب یې د هغو کسانو په اړه لیکلی وو چې لوی غوږونه لري

یو ځای یې لیکلي وو چې دلویو غوږونو خاوندان ډېر غلي خوله شیطا نته ډک وي. نه ډ ېریخ او نه هم ډېرې ګرمۍ ته د ټینګې دي ، ډېرزر تېروځي او هسې په مفتو کې لویو پوړیو ته رسېږي

مالا مطلب نه وو خلاص کړی چې ډاکتر او ټول همکاران رابا ندې راغونډ شوي وو او دفتر خندا ګا نو په اسرا خیستی وو.

ما لید ل چې کله به بهادر یوازې شو نو د تشناب هنداري ته به ولاړ او خپلو غوږونو ته به یې کتل خو تر ټولو ډېر پسا تي خپله ډاکتر میرویس وو ځکه همدی وو چې د هغه غوږونو ته یې د ټولو ورپام کړی وو

اکثره وخت به چې د دفتر په موټر کې د کور په خوا تلونو ډاکتر به له لوی لاس غو ګو دا سې ځا ی کښنولو چې د څنګ په هنداره کې به یې څېره ښکارېده

بیا به یې په ډېر پو رغږ کړ ا ستاده پا م کوه چې دچا غوږونه لار او یا ترا فیکي اشا رې درنه پنا ه نه کړي.

بس تر دفترا و کورنو به مو له خندا ز ږونه خوږېدل او بهادر به یوازې له خندا او زه خوله نیولې و ه ښه مې په یاد دي چې د پنجشنبې په ورځ د مېټنګ په خونه کې ناست وو او د ریس صیب د راتلو انتظار مو کاوه بهادر د ډاکتر خوا ته وروکتل

ډاکتر صیب نور به نو پوهنتون هم درنه خلاصېږي ؟

ټو لو و خندل

ډاکتر هم شرمنده ځواب ور کړ

نه غوږ و صیب زه پوهنتون خو لکه سرا و غوږونو سره تړلي یو

او...

بهادر یې خبره ورپرې کړه

ډېر شیطا ن یې خود دي په ځای دی چې وترنري ویلی وی ښه وه ډېره به ښه وه هسې هم ډاکترنه درنه جوړېږي

هو هغه مې هلته ویله چې په غوږونو کې تخصص اخیستل کېدلی بهادر غاړه تازه کړه

ټو کې مه کوه ته وو ایه چې مونګراف په څه کې اخلې ډاکتر له خندا لاس په خوله کېښود

غوږ و صیب د مونو ګراف موضوع مې دو مره سخته نه ده

په څه کې ده؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

په انسا ن کې دغوړونو اهمیت
ټولو وخندل اورئیس صیب راننوت

***

کله چې ټاکنې ترسره شوې نوله ستوما نۍ په ټولو خوبونه حرام وو اووخت راباندې دو مره مصروف تېرېده چې غوګوته موهېڅ پام هم نه وو یوه ورځ رئیس ویل چې درایوله شمېرنې وړاندې هرڅوک کولی شي ترپنځوورځو پورې رخصتي کورتېره کړي او بیا د شمېر لپاره بېرته حاضرشي همداسې وشول ټولو رخصتي واخیسته

غوګوهم مخ په کند هارلاړوویل یې چې یوه یوه نیمه میاشت کورته نه دی تللی زموږ دد فترددندې موده کمه وه خو له پوره مزه چړچوړ که وه دلته دیوه ملازم معا ش هم دیوه دولتي ریس هومره وونو رامکا نات خوپه ځای پرېږده

پنځمه ورځ چې راغلوبېرته کارونه پیل شول خو د غوګودرک نه وو دویمه ورځ درئیس صیب په دفترکې وم چې له حوزې نه تلفون ورته راغی څه خبرې یې وکړې

وروسته یې راته وویل چې غو.....وبښې بهادرصیب ناروغ دی. روغتون ته ورځو په وزیراکبر خا ن کې د ی ټول په بېړه ورغلو باډي ګاراډان اوسا تو نکي موراسره کړل

ګورو چې په روغتون کې پروت دی له ګوتې اوسرنه یې بنداژونه تاوودي دپولیسو یوافسروړاندې راغی اوزموږرئیس ته په خبروشو

صیب اوس هم دخدای فضل دی چې وژلی یې نه دی ښی غوږ اودچپ لاس دشهادت ګوته یې ورنه پرې کړې په غزني کې یې له خپل موټره ښکته کړی غلطي یې داوه چې ستا سې دد فترکارت یې ورسره نیولی دپولیسوافسر زموږ د رئیس شناخت وخوت دوی لاد دې پېښې اوطالبانو په اړه خبرې کولې اوموږ دغوګو خواته ورغلو په کټ کې یوزېړرنګه ځوان پروت وو ډاکترویل چې اوس ښه شوی خبرې کولی شي

ډاکترمیرویس ورمخته شو مخکې له دې چې څه وواي یې دبهادرپه سترګو کې اوښکې وګرځېدې اودزړه له زوره موسک شو

ډاکترصیب نورخورا ته غوګونه وایی

خوموږ ټول سلګوواخیستود هغه غوږاوګوته بې حرکته ووبهادردراپورته کېدوناکامه هڅه وکړه

اوبیا زې داجمله یې له خولې ووته

ډاکتره !ستاپا ل ریښتیا وو خلک وایي چې کرزي وګټله

2009-11-11 نومبرجلا ل ښار

سپین دېوالونه

غوټۍ له سهارمها ل ستومانه وه نه پوهېده چې کارونه یې ولې نن خلاصون نه لري ، نور هې لاس اوپښې و چې وې خولا یې هم دستړیا احسا س نه کاوه اوپه شوق سره دکورپه انګړکې په کارونو بوخته وه دکوچني ا نګړپه مینځ کې یې هرڅه ګډاو وډکړي وو د او بو لو ښي سپین خاورې اود خاورې څړې ګډاووډپراته وو خو په ټول ا نګړ کې دلمدې خاورې ښکلې بوی خوروو چې په هرچاښه لګېده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

غوټۍ به چې په دېواله هرڅړۍ راتېرکړنوله زينې به راښکته شوه او ځو قدمه به شاته بيابه يې دېواله ته وکتل چې دګچ په ځېرسپين رنګ به يې غوره کړی وو هغه په انګړ کې يوازې وه موريې فصل ته غوا بېولې وه او پلار يې په کرونده کې په کاربوخت ، مرغانو شورما شور جوړکړی وو اودانګړپه ونو او ګلانوکې مرغۍ چو نېد لې چې يوه ښکلې سمفو ني يې جوړه کړې وه.

نږدې لس بجې به کېدې چې دا نګړټول کا رونه يې ختم کړل خوبې له دې چې دمه وکړي دځاه غاړې ته لاړه يوګيلاس اوبه يې وڅښې اوبيا يې دېوالونو ته وکتل چې تاوده لمرله وچولوو روسته سپين رنګ ورکړی وو په زړه کې يې دخوښۍ يو ه نه ډکه څپه تېره شوه اوبيا له ځا ن سره دلېونۍ په ځېرپه خبروشوه

ام....څومره ښکلي ښکاري مور مې چې را شي څومره به خوشحاله وي دپلار خو مې هسې هم په ما کارونه نه لوربږي

بېرته له ځايه پا څېده لوښې يې وويندځل خوپا م يې شو چې دڅاه دغاړې ګلا ن له تندې ځوړند سرونه مړاوې ولاړدې په تندي يې راروانې خولې وچې کړې اوموسکه شوه

جا ن ! څومره به تږي وی کا شکي سهارمې لومړی تا سې اوبه کړی وی اخرماته هم خلک غوټۍ وايي

څوډولچې اوبه يې ورواچولې

مخ اولاسونه يې لانه وو ينځلي چې دروازه ټک ټک شوه اوغوا يوه رمباړه وکړه په شونډويې موسکا وځغلېده اودروازې په لوريې منډه کړه

وی مورجانه مې ده، خدايه څومره به ستړې وي

دروازه يې خلاصه کړه يوه سپين سرې ښځه دزېړې غوا شاته پنډه په سرولاړه وه غوټۍ يې لاسونه ښکل کړل اوبيا يې پنډه ورنه واخيسته غوايې په انګرکې ترونه لاندې وتړله اوبيا يې له تناره نه چايجوشه راوا خيسته اومورته يې وروړه

خودمورتبعه يې دمعمول خلاف يو څه جوړه نه وه غوټۍ ګيلاس ورته کېښوداوورنه ويې پوښتل

مورجا نې ولې خفه يې ؟

موريې سوړاوسيلی وکړ.

لورې هغه دکفرزامن بياراغلي وولالا دې هم له کرو ندو وسره لاړه نور کليوال هم ورسره وو اوس به ميدان ته رسېدلي وي ډېرزربه بېرته راشي

بيايې دچايوګيلاس خولې ته کړله څه ځنډوروسته يې خبرې وغځولې

لورې دغه کافرمو لکه چې نه پرېږدي خدا ی دې خيرنه ورکوي کاشکې ته يوځل په خيرپه خپل کورشوې وی هم خيردی اخير مې په زلمي زړه خوګېږي دبچي په ځای مې.....

دغوټۍ په مخ کې زېړې کرښې وځغلېدې اوخبرې يې په بله واړولې مورې انګر مې څنګه سپين کړته وګوره لکه نوی مو چې جوړکړی وي

موريې سوړاوسېلی وکړ

وېښ لورې !زه چې ستاپه منګ پېغله وم په اوته )هفته (کې به مې څو ځله ختې کولې ته هسې ځان ته غره يې لرپه چورت کې لاړه بيايې ترژبه لاندې وويل

نورنوبې ځا لې مرغان يو دې دکافرزامنوته دې خدا ی ښه ورځ نه ورکوي دواړه لاد چايو درې څلورپيا لې نه وې څښلې چې دروازه خلاصه شوه دغوټۍ پلار سيدا ګل کاکا يوم په لاس راننوت په څېره يې دخفګا ن ژورې کرښې خورې وې يوم يې ګزارکړدغواپه شايې لاس راتېرکړاودغوټۍ خواته راغۍ غوټۍ يې په سرښکل کړه اوترڅنګ يې کېښناست خولاسم ناست نه وو چې دغوټۍ مورپرې غږکړ

(c) ketabton.com: The Digital Library

دغوټۍ پلار ه خیرت خو ووځه یې ویل

سید اګل سرو خوځولو او اوږد او سیلی یې وکړ

نورنه کېږي وېل یې چې په پرده کې ډالروا خلی او کورونه مو پرېږدی

چې زموږ عسکر دلته نه ځایږي ویل یې چې ستاسې ټول کورونه زموږ په نقشه کې را ځي تاسې ته په چمتله او ګمبېري کې ځایونه درکوو چې له سره یې له دې نه هم ښکلي اباد کړی زه ګوما ن نه کړم چې دغوټۍ لوروادہ مې ترسره شي هسې مو دکور د ېوالونه دومره سپین کړي دي دا کورنورزمونږه نه د ی... دسید اګل کاکا سترګې له اوښکونه ډکې شوې .

خوغوټۍ په ځای کې رانېغه شوه

پلار ه له دې ښکلی کورپه ټوله دنیا کې نه شوپیدا کولی دګلا ن دانګوروتاکونه او ونې ما ټول دڅا ه له اوبونه په ډولچه رالوی او اوس ورسره مره بې وفا یي وکړوله دې نه ښکلی په ټوله دنیاکې نشته زه بل کورته قدم هم نه درسره اخلم

دپلار په شونډو یې موسکاخوره شوه

غوټۍ لورې !ته څه غم کوي ستا خوهسې هم دلته شمارو ځۍ پاتې دي.

غوټۍ له رنګه سره شوه اودا نګوردتاک خواته ورغله هلته غوا د ګلانو ځا نګوته چې له مړاو ي توب نه راوتلي خوله اچوله.

***

ځلورمه ورځ مازدیګرپه هواکې الوتکې تاوېدلې اولاندې امریکایي سرتېرې تروره ګرځېدل یوه قومندان دخپل ژباړن په مرسته دکلي له مشرانو هیله کوله چې پیسې واخلي او ترسباپورې کورنه خالي کړي.

سهارو ختي له مجبوریته دټولو کډې تړل شوې وې اوله یوې مخې په موټرونوکې بارېدلې

دسید اګل کاکا دروازې په وره کې یوما شین ولاړ وو چې دلوې خولې سیورې یې د هغو ی ا نګړته رسېده په یوه وړکي موټرکې ددوی ټول کالي ځای په ځای شول له دکوره به نه ووتلي چې بهرولاما شین خوله را ښکته کړه اوورسره دما شین په سبټ کې دناست شین سترګي په خوله خندا راغله.

ما شین له یوې جټکې سره انګړته ننوت اوله یوه ګزارسره دغوټۍ په لاس سپین شوي دېوالونه لوټې لوټې رانسکورشول بام بوټۍ هم له ټولونه وړاندې راولوېده او هلته وړاندې دزلمي دوی دکور بامونه رامعلوم شو ل.

دغوټۍ د زړه د نیا هم د همدغه سپینو لوټو په څېر لوټې لوټې رانسکوره شوه اودکډې موټرېې په ګردونوکې له کلي پناه شو

۲۰۰۹\\۱۱\\۲۱نومبر جلا ل اباد ښار

(c) ketabton.com: The Digital Library

د سندرو او چمبو او ازونه ترډېرولږې ځايونو پورې خواره وو هرخوا دګر وپونو رڼاوه دمدير جما ل د کلاپه ا نګړ کې کله هم دومره رڼا ګا نې او مېلمانه چانوو ليدلې له دروازې نه به چې دنوو ښځوکومه ډله له ماشومانو سره يو ځاى راننوتله نود په برنډه ناستې ښځو به سرونه راوچت کړل او په خپل منځ که به يې ځاى ورکړ.

دې ډېوې همزولو نجونو او سهيليوهره شېبه هڅه کوله چې له چمبو سره نوې سندرې ووا يې هرچاپه سندرو کې سيا لي کوله مديرجمال چې به کله د مېلمنوله کوټې دښځو د ناستو خونو اوبرنډې ته راغی نوضروربه يې دخپلې مشرې لور ډېوې خواته يو نظرورکتل اوپه همزولوبه يې دا فغا نيو پيسې شيند لې.

ډېوه دناوې په سره جوړه کې د شهزادګۍ غوندې ښکارېده ښکلا يې له سينګارسره يوپه دوه شوې وه خوله سترګو يې دروانو او ښکو په راز څوک نه پوهېد ل سندرغاړو نجونو به چې ډېوې ته پا م شو اود هغې روانې او ښکې به يې وليد لې نوپه ټوکوا وخنداګا نوبه سرشوې او سندروته به يې زورورکړ.....

نجلۍ ود ېږې خوشحا لېږي

په سترګوژاړې په زړه ګوړې ما توينه

شپه ده د نکريزو جينکۍ تمبل وهينه.....

په همدې وخت کې به چې مديرجما ل راغی نوپه خوږه لهجه به يې بيا خپله خبره تکرار کړه........

خوينډو ډېوه لورمې خوشحاله وسا تئ ما دکلې روا جونه مات کړل ماته دا فرق نلرې چې ناوې مې دکوره وځي که را ځي هرڅنګه چې وي بايد په دواړو خوشحا لي وشي په خوښۍ ،ابرو ،عزت اوسندرو چې يوه پيغله وا ده شي داترټولولويه خوشحا لي ده نورخلک دخپلې لورپه واده کېدو خواشيني وي خوتا سو وګورئ چې زه دخوښۍ په جاموکې نه ځايږم.

ما ته خداى دا سې زوم راکړى چې د شتمنۍ يې په دې ټولوکلو اوسيموکې سيا ل نشته هرپلاربايد دخپلې لور دښه راتلونکې په فکرکې وه اوسي.

زه بيا هم وايم چې زما پرېکړه په ځاى ده ښځې خوناقص العقله وي دښه اوبد ترمنځ فرق نشي کولاى.

د جا نداد خياط دزوى لپاره نورې نجونې کمې ندي هرڅوک بايد د خپلې برېستنې سره سم پښې وغځوي اوخپل سيالان دې وګوري اخرما خوټوله دنيا.......

خبرې به يې بيا د چمبو اوسندرو په شور کې ورکې شوې په وازه خوله به دنورو ميلمنو خواته ورغی، دناريڼوو په حجره کې هم دکلو ځوانانو ډول ډول خبرې کو لې چابه دجانداد دزوى سلام چې خلکو سلا مک باله ستاينه کوله دهغې اود ډېوې دپټې مينې کېسې به يې ترژبو لاندې کولې څنې بيا دملک نظرمحمد دزوى داود خان چې اوس دمديرجما ل زوم کېدود شتمنۍ اوجايداد په صفتونو مصروف ؤ.

د کېسو او سندرو محفلونه له نيمې شپې وروسته ورو ورو غلي کېده په ټول انګړ کې دلمدو نکريزو ښکلې بوى خور وو اوهرڅوک دخوب ټاليو زنګول

شپه شوه او په کورکې درنه چوپتيا خوره شوه ډېوې داوښکوډکې سترګې وغړولې ترڅنګ يې څوهمزولې په خواږه خوب ودې وې. دنکريزو او عطرونوښکلې بويونو دکوټې فضا نيولې وه .ډېوې سترګې وموښلې په ځاى کې کښيناسته اوخپل جوړکړى پلان يې په ذ هن کې راوست.

يوه شيبه يې سرپه زنګون کېښود د سلام غمجنه څېره يې په ذ هن کې وګرځېده زړه يې درد وکړاود ځايه پاڅېده په بيړه يې له الماري څخه زړې جامې راوا خستې له ويښتو ،تندي ،لاس اوپښو يې د سينګار ټول ځيزونه لرې کړل زړې جامې يې واغوستې او په غلو قدمونو يې دردروازې په لورحرکت پيل کړ، له يوه تياره دهليز تر تېرېدو وروسته انګړته ورسېده په انګړ کې تياره او چوپتيا خوره وه پا س اسما ن ته يې وکتل ستورو

(c) ketabton.com: The Digital Library

سترګکونه وهل لکه دخپل قسمت ستوری یې چې نه وي لیدلی بېرته روانه شوه تګ ته یې دا نګړدونو اودبوټوپه خواکې دوام ورکړ.

له وړاندې حجرې نه هم دنارینووغږونه نه راتلل اونه هم څوک ښکارېدل یوازې څوکسان دغوښودد ېګونو ترڅنګ نغري ته ناست وو اوپه خپلو منځونوکې یې غلې غلې خبرې کولې.......

ډیوې په لړزانده لاسونود کلا دروازې ته زور ورکړخووازه نشوه اویوډول اوازترېنه پورته شوپه بیړه دکلا له دیواله سره وړاندې ولاړ داو بودلښتي هغه سوري ته ورسېد چې دا نګړونوته دویا لې له لښتي نه راغلی وو په خا پوړوله سوري څخه ووته نیم ساعت نه وو تېرشوی چې په تیاره کې له کرو ندو تېره شوه ،دسیند په غاړه ترونه لا ندې ولاړه وه اویوې نوې پرېکړې له هغه نه هرډول وېره لرې کړه زړه یې له ترخوسلګیوډک وو .

ورخطاړوه لکه چې څوک یې څارې دپلارد کلا خواته یې وکتل خوپه تیاروکې هېڅ څیزنه ښکارېده.

هرې خواته یې دسلا مک څېره ترسترګوسترګو کېده هغه کله هم په خپل سرداسې له کوره نه وه وتلې.

دسیند دمستو څپوشوربه یې په زړه کې وېره لا هم زیاته کړه اسمان ته یې وکتل لکه لېونۍ له ځانه سره په خبروشوه.....

زه دهمدې سیند دڅپونوسره ځم.....پلاره تاویل چې زه ستاهرارمان پوره کوم خوته دروغجن شوې زه بیا هم ستا په لمن خدای مه کړه کوم توردا غ نه لګوم دتېښتې هڅه نه کوم ځم دسیند په څپوکې له ژونده پناه اخلم شونډې یې یوې شېبې پورې خوځکېدلې خوناڅاپه دسیند په څپوکې یوبل شورهم زیات شو دژوند ډیوه دسیند په یاغي څپوکې ګل شوه.

دزخم ننبه

زه اورسو لي په ټو لګي کې هروخت یو ځای کښنا ستو دغه کښنا ستل کومه نو ې خبره نه وه چې څنګه به له رخصتۍ وروسته ښوونځی پیل شو نو دواړو به په ټولګي کې څنګ په څنګ ځایونه ونیول او بیا به دکا ل تراخره په همغه یو ځای کښناستو ډېرځله به مو په خپلو همدغه ځایونو خبره ترجنګونو هم رسېدله

ښه مې په یاد دي چې شپږم ټولګی مو نوی پیل شوی وودواړه دټو لګي په منځني قطارکې ناست وومنځنی موپه دې ټاکلی ووچې مخکې به ښوونکو ډېرې پوښتنې کولې اودغوږونوتاوولو لپاره بې لاس رارسېده اوپه وروستي لین کې دټنبلا نو ګما ن را باندې کېده

دریاضي استاد ټولګي ته راغی اوله ټولو بې دکورنۍ دندې پوښتنه وکړه ټولوراوړې وه یوازې زماملګري کتا بچه کورپرېښې وه وچل یې داکړې ووچې زما دکتابونو له مینځه بې زمادکورنۍ دندې کتابچه پټه کړې وه او په ښوونکي پخپل نامه لاسلیک کړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

کله چې زما وارراورسېد نوکتابچه تري تم شو ه فکرمې وکړ چې په کورکې رانه پاتې ده خو ښوونکی چې دورځې له سره غوصه وو دابهانه يې چېرته منله په قهرجنه لهجه يې راته وويل
شيطانه ته راشه چې کورنۍ دند ه درته وښايم دټو لګيوالو په مخ کې يې دومر ه ووهلم چې لاسونه مې دلښتوله ډېر ه ګزاره کرخت شول په خپل ځای کې کښيناستم اولاسونه مې خولې ته نيولي وو زماله ملګري پرته چې په شونډويې شيطاني
موسکا خوره وه نورټولودخوا خوږۍ په سترګوراته کتل
کله چې ښوونکې له ټولګي ووت که ګورم کتابچه مې دملګري په کتابونوکې ايښې له ډېره قهره مې له څوکۍ نه ماتې شو ې دږې ته لاس کړ اوګزارمې پرې وکړ دږه دهغه په تندې ولګېده اودوينو يوې دارې دټولګي غولی په وينو سورکړ
وروسته له هغه ورځې دوه درې ورځې رانه غی خوبيا چې ټولګي ته حاضرشو نو ځای يې زمانه بدل کړ په تند ي يې لاهم دسپين ململ ټوټه لګېد لې وه په خفګا ن کې دوه مياشتې تېر ې شوې اوبيا داسې ورځ راغله چې دجګړو په سبب ښوونځی بند شو ټول تيت پرک شوو په کلي کورکې به هم دواړو يودبل نه لارچپوله اوخبرې موله خفګانه بند ې کړې وې خوپه سربې هغه سپين بنداج لکه عادت شوی يې چې وي هروخت ښکارېده
***
له هغې ورځو اووختونو اتلس کاله تېرېږي چې بيا ما اورسول جان چې موږپه کلي کورکې رسولی بللونه وو ليد لي
هغه تېره ورځ په ښارکې دنوي کال په مناسبت يو محفل جوړشو ی وو چې سندرې نڅاګا نې اوشعرونه په کې ښه پرېمانه وو دغونډې په نيما يي کې دستېج انا نسر انانس ورکړ چې اوس به دځينو شخصيتونو دژوند خاطرې واورئ چې خوږې اوترخې دواړه په کې دي هغوی په خپله ستېج ته راځي اوتا سې ته دغه خاطرې وايي دا هم ددې لپاره چې دانوي ځوانا ن ورنه يوڅه زده کړي اوستا سې هغه خستګي رفعه شي ددغه برخې لومړی ويناوال مود غونډې مشرمېلمه چې ورځې وړاند ې له جرمني نه خپل هېوادته راستون شوی ډاکتررسولي دی
دلاسونوپړکا شوه يو چاغ سړی توره درېشي اوسره نېکټا يي يې په تن وو ستېج ته ورغی خاطره يې دنوي کال دمبارکۍ ورکولو وروسته پيل کړه ان دې ماشومتوب اود هغه دکليوال ژوند نه يې را پيل کړه
هره برخه يې ډېره په زړه پورې وه اوپه چکچکوبدرګه کېده کله چې شپږمې ټولګي ته راورسېد
دسروېښتا ن مې نېغ ودرېدل دکورنۍ دندې دپټولو اودچوکۍ په دږه دګزارا ودتل لپاره دخپل ملګري سره دخفګا ن خبره چې راورسېده نورپه ماکې هم دکښنا ستلو تاب نه وو په منډه ستېج ته ورغلم دهغه تندي ته ځېرشوم دجوړشوي ټپ ژوره ننبه په کې له ورايه ښکارېده دواره په ستېج کې غاړه غړۍ شوو نور نونه يم پو هېدلی چې دغونډې برخوا وبه ترڅه وخته چکچکې وهلې وي

(c) ketabton.com: The Digital Library

## دځنګل ماران

دپسرلي په موسم کې به چې کله دسنځلې ګلان وغوړېدل نود کلي دټولو کروندګروغوږونه به دتورکي دخوږې شپېلۍ دغږنیونغمو په انتظاروو اوډېرځله به دهغه دشپېلۍ له اورېدو پرته ورځ ورته نیمګړې ښکارېده.

دتورکي له نامه سره زموږدکلي پرته دشا او خوا کلوټول اوسېدونکي پوره اشنا وو اودنوم په اورېدوبه یې دخوږې شپېلۍ په صفتونو سرشول چابه وېل دهغه غوندې شپېلۍ په دنیا کې هم څوک نشي غږولی چابه وېل چې په شپېلۍ کې یې سحریا جادوپټ دی ځینوخودملنګ اوجا دوګرټاپې هم پرې لګولې وې تورکی په ریښتیا هم همداسې یوعجیب انسان وو دتورکي نوم چې کله څوک اخلي نودیوه وړوکي انسان نوم ښکاري خوداتورکی بیا بیخي بل ډول انسان وو داسې چې په ږېره کې یې نورتوروېښتان نه ترسترګوکېدل سترګې به یې په ببرورو ځواوشونډې به یې په اوږد وېښتوکې پټې وې رنګ یې دسکاره په څېرتک توروو، په بدن وچ کلک او غټه پګړۍ به یې په سروه د هغه داصلي ځاې ځایګیپه اړه هېچا ته هم پته نه وه اونه یې چا دکورنۍ نورغړي لیدلي وو دژمي په سړوشپوکې به تري تم شو خودپسرلي په موسم کې به دپسرلنیومرغانواوبارانونوسره یو ځای په کلي کې راپیدا شو شااوخوا کلوکې به یې په ارزانه بیه له چانه شپني ونیوله بیابه نودې وو اودرست کال له کلیوالو سره تاوده مجلسونه اود شپېلۍ ډول ډول نغمې که چا به ورنه د تېرژوند په اړه کومه نیمه پو ښتنه وکړه نو ځان به یې په لېونتوب ووهه اویابه یې خبره په بله واړوله حتی داصلي نوم په اړه یې هم څوک نه پو هیدل ډېروبه وېل چې رنګ یې تور دی نو ځکه خویې خلک تورکی بولي خوکله چې څوک ورته کاکا ووایي نوډېرخوشحالېږي.

انا به مې وېل چې تورکی دغونډۍ کلي دی، په ځوانۍ کې دحاکم صیب په لورمین شومینه یې د لیونتوب ترحده ورسېدله حاکم ته یې ډېرې جرګې واستولې خوهغه هره یوه په بې شرمۍ سره رد کړه اودایې دځان سپکاوی وو ګڼلوتردې چې دمرګ اختارونه یې ورکړل څوځله یې په خپلوکسانودومره وډباوه چې په شپوشپوله خوراکه اوخبروولوېده څوځله یې دحاکم په کوردبرید هڅه هم وکړه خوفایده یې و نکړه دحاکم صیب هم نورصبرتمام شو تورکی یې خپلو لمدو زېر زمینو ته واچولواودکورنۍ نور غړي یې یویو په پټه اوښکاره ورختم کړل څوکاله پس چې حاکم صیب خپله لورواده کړه نودتورکي نه هم ددوزخ غوندې تیاره سمڅواوپرلپسې غذابونوهرڅه هېرکړي وو نوریې چې ده ته څه تاوان نشوررسولی په سمڅوکې یې دهغه ساتل هم بې ګټې وبلل نوځکه خویې له ځانه وشړلوپس له هغه نه تورکی هم دغرونواوځنګلونوشو ټوله ځوانی یې په لېونتوب او ارمان کې تېره کړه دخپلې ناکا مې مینې دردونه به یې هروخت په شپېلۍ کې بیانول.

زه نه پوهېدم چې دانا دغه کیسه به مې کومه افسانه وه که ریښتیاهم یووخت داسې شوي وو زما په زهن کې کټ مت همداسې نقش وه ځکه دانایوه خبره مې هم ماته دروغ نه ښکارېده دتورکي کاکا په لیدوبه په تیاره اونمجنوسمڅو کې یودشخوبرېتونوالازلمی په ذهن کې راغی چې دېوال ته سرپه زنګون ناست وي.

په ټولو شاوخوا کلوکې داخبره هم مشهوره وه چې دتوره کي په شپېلۍ کې د جادو په څېراثرپروت دی دځنګل اوکروندو ټول ماران پرې مین دي لوی او واړه ماران یې دخپلې شپېلۍ په هوده کې راوستلي، څه چې غواړي هغه پرې کولی شي ځینې سپین ږیروبه لاداهم ویل چې ترغرونولاندې پراته ښاماران هم دتوره کي په شپېلۍ له

(c) ketabton.com: The Digital Library

خوبه رابیدار بړي موږ ماشومانو به هم که کله کومه شپیلۍ ومونده نو یو بل ته به مو ویل چې د توره کي غوندې بې ووهه.

زموږ په کلي کې ټولو کروندګرو په پولو، ویالو، پوشتونو، سیندغاړو او د غرونو په لمنو یا هم په وړوغونډیو کې د سنځلو او چنارونو ونې دومره زیاتې ایښې وې چې د باد له کمزورو څپو سره به شور ترې او چت شو زه نه پوهېږم چې زموږ نیکونو به ولې د سنځلو او چنارونو له دغه ونو سره دومره مینه لرله چې د کرځمکې به یې هم پرې لړلې وې. خو اوس چې به د پسرلي موسم او داوړي لومړۍ شپې ورځې رابرسېره شوې په ټولو کلو او دښتو کې به د سنځل ګل خوشبويي خوره شوه او د خلکو په سپږمو به خوږه لګېده ان ترلري پرتو سیمو به هم بادونو دغه خوشبورسوله د سنځل ګل په دې موسم کې به ماران دومره مست وو چې له غرمې وروسته به څوک ترې په کروندو او سیند غاړوکې له وېرې نه شوی ګرځېدلی په دوو دریوورځو کې به د کوم کلیوال غو اضرور د مار زهر ووژله بیا به نو چا داوړي ګرم موسم او چا د سنځلو ونو ته خولې په کنځلو خلاصې کړې وې.

په کلي کورکې به چې څوک غوصه کېدل نو ادیوه ښیرا به ترټولو ورته زوروره ښکارېده چې د ځنګل د مارانو خوراک شي.

خو یو توره کی وو چې په دې موسم کې به یې خوله د خندا نه راټولېده شپېلۍ په غاړه دوه درې ماران په لاس پوله په پوله او څېره په څېره به ګرځېده زړورو کروند ګروته به یې شپېلۍ غږوله او مارانو به له شاوخوا کروندو یوډول پشهاراو اوزونه اېستل داوازونه به چې ډېرشول توره کی به له خندا شین شو شپېلۍ به یې له وچو شونډو لرې کړه له ځان سره به په خبرو شو.

دا ټول زما مریدان دي، یوازې همدا ماران ماته احتیاج دي زما امر د کلي په وزو، مېږو او د غو مارانو چلېږي د نورو امرونه بې ځایه منم د دې کروندو ټول ماران په دغه شپېلۍ مین دي هرڅه پرېږ کولی شم په کروندو کې یې یوه ورځ نه یوه ورځ کومه غوایا خوسکی چیچلی وي خویوه ورځ به مونه وي اوربدلي چې د توره کي دلښکر کومه مېږه مارانو چیچلې ده ما ټولو مارانو ته امر کړی چې د دې کلي خلکو ته څه تاوان ونه رسوي خود بنیاد مانو غوندې په هغوی کې هم ځینې سرکشه مخلوکات شته چې امرنه مني. هغه به ډېرځله په لوړوغونډیو او د کروندونه لرې د غرونو په لمنو کې شپېلۍ په خپله رمه پسې غږوله خود غرمې نه به بیا په هغه څېره کې پروت وو چې د کروندو په مینځ کې کروند ګرود سنځلې تریوه ونه لاندې ورته جوړه کړې وه.

په توره کي پسې دا هم مشهوره وه چې د خولې لاړې یې د مار د زهرو ضد دي که به چاورته وویل چې توره کی کاکا په یوازې توب کې دې زړه نه تنګېږي نو په بې غورۍ به یې ځواب ورکړ.

بچو !زه د ځنګل د مارانو پادشاه یم هغوی زما لښکرې دي یوازې خو ته یې چې په دې دنیا کې یو سر د وه غوږونه ګرځې په دې ځواب به یې هرپوښتونکی شرمنده او حیران کړ.

یوه ورځ داسې هم راغله چې د سنځل ګل په مهال د سهاره ترما ښامه چا د توره کي د شپیلۍ اواز وانه وربدلو په کروند ګرو هم ورځ بې خونده تېره شوه ډېرو کلیوالو پوښتنې پسې پیل کړې چا به ویل چې کومې لرې درې ته به یې رمه بېولې وي چېرته به تندې وهلی وي، .ناروغ به وي چا به یو څه او چا به بل څه ویل.

دویمه ورځ یې هم ترغرمې پورې درک معلوم نه شو د غرمې ګرمي په پوره زور کې وه چې د یوه کروند ګر د هغه څېرې ته نږدې ولاړو اښو ته پام شو.

د هغه نو رملګري هم په منډه منډه هلته ورغلل د سنځلې ترو نې لاندې یې د څېرې په څنګ کې توره کی پید اکړ شورماشور جوړ شو توره کی په خورو وروڅانګو او بوټو کې اوږود غځېدلی وو سترګې یې پټې وې او په سینه یې د لو یو اوو ږو مارانو ځاینست نه کېده د ځنګل مارانو خپل شاهنشاه خوړلی وو له هغې ورځې نه ترننه زموږ د کلي کروندې او د غرونو لمنې په یوه درنه او غمجنه چوپتیا کې ډوبې دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲۰ ۱۳۸۷\۸

میدان رودګ ، چک ، ولسوالۍ

عبدل کاکا

د پوهنتون په انګړکې یوازې سپین ږیري عبدل کاکا ته ددې اجازه وه چې له خپلې ربړۍ سره یوځای دپوهنتون انګرته داخل شي اوپه محصیلونو کیلې وپلوري سهاروختي به چې کله دلیلیې نه دټولګیو په خوا روان شوو نوعبدل کاکا به بیا دوخته له خپلې لرګینې ربړۍ سره دپوهنتون انګړته رارسېدلی وو اودصبرترلوړو ونو لاندې به یې په ربړۍ کې دتازه میوو درجنونه سمول اوله ځان سره به یې کومه سندره غلې غلې زمزمه کوله له ربړۍ سره د نږدې لارو اوپاشي هم دهغه په غاړه وه د پوهنتون له هرمحصل او استاد نه به دې چې دهغه په اړه پوښتنه وکړه نوو بل به یې چې زه دغه پوهنتون ته راغلی یم نوعبد ل کاکا له همدغه زړې ربړۍ سره ترننه په همدې یوه ځای کې وینم چې له سهاره ترماښامه خپلې کیلې خرڅوي.

دهغه له نوم سره نږدې ټول نوي اوزاړه محصلین اشناوو اوپه تفریح کې به یې دهغه له خبرواوټوکو ټکالو خوند اخیسته که خدای مې غاړه بنده نه کړي نوله نیمایي نه زیات محصلین نجونې اوهلکان یې په نامه پېژندل اوپه نامه یې غږېسې کاوه ځینومحصلینوخوبه دامتحا ن په شپو ورځوکې داستادانو لپاره واسطه کولو هم اواکثرو استادانو یې خبره منله اوځمکې ته یې نه غورځوله دپوهنتون ټول هلکان او نجونې یې لونې اوزامن ګڼل د هرې رشتې له محصلینو سره یې په مسایلوکې پوره بحث کاوه اوله استدلال یې کاراخیسته خو د زده کړو په اړه یې دهغه دنور ژوند په څېرچاته معلومات نه وو چې څومره ښوونځی یې لوستی زیاته طبعه یې د ادبیاتو له محصلینو سره لګېده پرېمانه متلونه ،شعرونه اوټپې یې په یاد وې دخبرواوټوکو ټکالو په وخت به یې له نجونو او هلکانو سره دومره شعرونه اومتلونه کارول چې خپلې کیلې به ترې هېرې وې.

درحمان بابادومره شعرونه یې په یاد زده کړي وو چې کله کله به د ادبیاتو محصلین ترې عاجزهم شول اوموضوع به یې بل خواواړوله.

دپوهنتون په لومړي کا ل له هغه سره چندان بلد نه وم خو څو ځله مې چې کیلې ترې واخیستې نو له خبرو یې پوه شوم چې ښه خوش طبعه اوباسواده انسان دی دیوه کراچیوان دومره په ټول پوره اوپخې خبرې نه یوازې ما بلکې هرنوي کس ته په زړه پورې وې خوبیا به مې دپښتودامتل سترګوته ودرېد چې وایي.....

))چې اوسې په خوی به دهغو شې (( فکرمې وکړچې دعبدل کاکا دعمریوه زیاته برخه همدلته دپوهنتون په انګړکې له محصلینوسره تېرکړې راشه درشه یې له محصلینواواستادانو سره ده. نوځکه خویې دومره څه زده کړي چې په روانوخبروکې استدلال پرې وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

يوه ورځ مې دهغه له ربړې نه څو کيلې واخيستې او په خوړلو يې لګياوم چې په دې کې دوې نجونې هم راغلې عبدل کاکا ته يې په خندا سلام واچوه يو درجن کيلې يې ترې واخيستې په پلاستيکي کڅوړه کې يې واچولې او له څو خبرو وروسته رواني شوې.ماعبدل کاکا ته وخندل هغه هم زما خواته راغی او په اوږه يې لاس راکېښود خوشال باباڅومره ښه فرمايلي دي.

هرچې خوږ دښکلي مخ په مينه نه وي
ددنيا په مخ اوده راغی اوده لاړ

دابيت مې دلومړي ځل لپاره دهغه له خولې واورېده اوله زړه نه مې خوښ شو مالا ځان خبروته جوړولو چې بيا يې خبروته دوام ورکړ زه دوی ته په هغه نظرنه ګورم لکه تاسي چې..........

لړغلی شو بيايی خبرې ته دوام ورکړلکه ستاسې ځينې ملګري يې چې لري.

زه دصورت ښکلا چندان پلوی نه يم ديوه موقتي ښکلاده اصلي او تلپاتې ښکلا په سيرت کې نغښتې چې ښتن تعالی په هر چا نه ده لورولې څوک چې دانښکلا خوښه کړيې دهغه مينه هم تلپاتې وي په اوسنۍ زمانه کې دا سې انسانان ډېرکم دي چې خاوند پرې دسيرت اوصورت دواړه ښکلاوې لورولې وي.

په خبروکې يې ورولوېدم. کاکاپه دوی کې دې کومه ښکلاليدلې ؟

خو هغه خبره په بله واړوله.

ارسطوو ايي چې مينه يو روحي تسکين دی اود دوو روحونو عاطفي تړون ته مينه وايي چې يوازې روحي لذت لري اوله جسم سره يې تړاو نه شته خو افلاطون وايي چې مينه بې له جسمي وصال نه مينځ ته نه راځي بچيه زه دارسطو پلوی يم هغه بې له دې چې زما خبرې واوري همدا سې لګياوو ماهم دکيلو پيسې ورکړې اودټولګي په لور روان شوم له يوډول زهني کشمکش سره مخ وم که رېښتيا وو ايم دومره پخې خبرې مې دعبدل کاکا په شېريوه کراچيوان باندې نه لورېدلي.

وختونه په بيړه روان وو دعبدل کاکا دکيلو په ربړې به چې ورپېښ شوم نوضروربه ددواړو ترمنځ داډول بحثونه کېدل کله کله به مې چې کوم شعرورواړولونو سمه کره کتنه به يې پرې پيل کړه.

ښه مې په ياد دي چې د تصوف اوکره کتنې په ساعتونوکې به زموږدټولګي خواته راغی ربړې به يې پرېښې وه اودکړکۍ څنګ ته به يې داستاد لکچرته غوږنيولی وو که په کومه خبره به يې نيوکه اوتبصره لرله نوبيا به بې يوازې ما ته هغه وخت کوله چې دربړې خواته به يې ورغلم نورماهم دا هېره کړه چې هغه يوکراچيوان دی دپوهنتون ديوه خواږه ملګري په څېرمې خبرې ورسره کولې خوددې سره سره مې دهغه دزده کړواوتېرژوند په اړه معلومات ترلاسه نه کړل په شخصي پوښتنو مې چې تنګ کړن وعده يې راسره وکړه چې کله په څلورم کا ل فارغېدلې نو دخپل ژوند يوه کيسه درته کوم چې ستا هره پوښتنه به ځواب کړي بيايې وليکه دلنډې کيسې لپاره ښه موضوع ده نور نو ما هم په دې اړه پوښتنې نه ترې کولې.

000

په څلورم کا ل کې چې له پوهنځي فارغېدلم له خپل مونوګراف نه تردفاع وروسته نېغ دعبدل کاکا خواته ورغلم سترګې يې له اوښکوډکې وې خووېل يې چې دا دمحصلينو په فراغت دخوښۍ اوښکې دي ، دواړه دصبرتريوې وړې ونې لاندې کښيناستو بې له دې چې زه خپله کړې وعده ورياده کړم غربو نيولې غوندې په خبرو شو.

بچيه !ستاټول ټولګيوال او دان ور هلکان چې سږکال فارغيږي زما څلورکلن ملګري دي دهغوی په فراغت خوشحاله يم خو په بېلتون يې ژاړم هغوی به مايوکراچيوان بولي خوزما په زړه کې اوده احساسات اوسپېڅلې جذبه ديوه ساده کراچيوان نه بلکې ديوه خواخوږي انسان ده ستاسې تګ ماپه دې باوري کوي چې هرڅه پای

(c) ketabton.com: The Digital Library

لري هيله کوم چې له دې ځايه لاړې نو خپل بوډا کاکا دې هېرنکړې ماله تاسره وعده کړې وه چې خپله کيسه به درته کوم دا کيسې مې تر اوسه چاته نه دي کړې خو زه يقين لرم چې ته به زما په خبروباور وکړې.

بچيه ! نږدې د پرش کاله وړاندې زه هم ستا غوندې زلمي وم د همدې پوهنتون او همدې پوهنځي محصل وم په ټولګي کې مې تر ټولو لوړې نمرې اخيستې موږ هغه مهال په يوه ټولګي کې شپېته کسه وو نيمايي هلکان او نيمايي نجونې وې دا پوهنتون اوس جګړو يو څه خراب کړ خو هغه وخت هر څه ديوه رنګين خوب په څېر ښکلي وو دا ونې او ګل بوټي هغه وخت وارډه وو خو ډېر پاک صفا او تازه وو ښځې او نارينه خدمت ګاران به يې لرل هره خوا په دې پارکونو کې ښکلي چمنونه زرغون وو او چوکۍ په کې لګېدلې وې څه به درته وايم هرڅه ښکلي وو بس يوازې زما قسمت خراب وو په دريم صنف کې وم يوه ورځ استادانو ټولګي ته يوه نوې نجلۍ راوسته ټولو ته يې معرفي کړه.

دا انجيلا ستاسې نوې ټولګيواله ده چې اوس اوس له بهره راغلې پخوا يې پوهنځی په همدې ټولګي کې پرېښې وو اوس يې له سره وايي. هغه به د خپل عمر په څلورويشتم پا پنځه ويشتم پسرلي کې وه.

دا وخت يې د خپلي رېږۍ په لورشاو خوا وکتل او خبرو ته يې دوام ورکړ. هغه دومره ښکلې وه چې سترګې يې په ليدو نه مړېدلې د ټولګي له ټولو نجون وسره يې مجلسونه په زړه پورې او خوا ږه وو خوله هلکانو سره يې کار نه لرلو په درسونو کې هم سمه د بلا لور وه لکه اوږ ژبې نطاقه چې په څو الفاظو کې يو عالم خبرې ځايوي دې به هم اضافي خبرې نه خوښولې بله دا چې ډو بهرني هېوادونه يې هم ليدلي وو.

دا نجيلا په ليدو زما حالت پوره تغيير وکړ که رېښتيا درته ووايم له زړه نه مې خوښه وه له استادانو سره به يې هم په ټولګي او بهر کې په بې غورۍ بحثونه کول خو زه نه پوهېدم چې هغوی يې ولې دومره خيال ساتلو زما د مينې ځو پيغامونه يې په ډېره بې غورۍ رد کړل او په سپکو سپورو يې ولمانځلم هغه وخت زه په ليليه کې نه اوسېدم کور مې په ښار کې وو پس له وخت مې دکانداري کوله خو هتله به مې هم انجيلا په خيال کې ګرځېده يوه ورځ مې په کور کې يو اوږد ليک ورته وليکه په پخوا ادبياتو اونوو استعارو مې سينګار ګړ.

دهغې له بې غورۍ مې خپل شکايتونه ورته وليکل په اخرکې مې ورته و ليکل که ستا پلار انسان وی نوتا ته به يې مينه درښودلې وه دا خبره که څه هم ښکنځلو ته ورته وه خود زړه له درده مې وليکله

ليک مې راسره واخيست چې سباته يې په يوه ډول وروړسوم هغه وخت په پوهنتون کې د مينې ځرګند ولو يوه طريقه داوه چې په لاره کې به يې نجلۍ ته ليک وغورځولو او نجلۍ به او چت کړ ما هم دا طريقه غوره وبلله ځکه د دې لاړې د بل چا د خبرېدو ويره نه وه سبا ورځ موقع په لاس رانغله ليک مې په جيب کې وو دويمه ورځ يوه ټولګيوال راته وويل چې انجيلا هرسهار يو ځل د پوهنتون رياست ته ځي او بيا ټولګي ته د درس لپاره حاضرېږي زه هم بله ورځ سهار د پوهنتون درياست مخې ته لاړم خو انجيلا رېښتيا هم زماله ورسېدو وړاندې رياست ته لاړه زړه مې دربا کوله ليک مې په لاس کې نيولی وو نږدې نيم ساعت وروسته انجيلا په ناز نخرو له رياسته راووته ليک مې له دروازې نه لاندې په زينه کې ورته ګذار کړ خو انجيلا په همدې وخت کې پښه نيولې شوه چې ناڅاپه د پوهنتون رئيس له دروازې راووت او په انجيلا يې غږ کړ.

لوري لړتم شه جوړه به ځو.

د رئيس په لاس کې ښکلی د ډپلومات بکس وو په ګړنديو قدمونو له انجيلا رامخکې شو دويمې زينې ته چې رسېده په زينه کې يې په يوه پړاته کاغذي پاکټ سترګې ولګېدې ليک يې راو چت کړېې له دې چې څه وو ايي خپلو عينکو ته يې نږدې کړ زما په سترګو توره شپه شوه له هغې ځايه مې پښې سپکې کړې دوې ورځې له وېرې پوهنځي ته نه راتلم زه تر هغې ورځې په دې نه پوهېدم چې انجيلا ولې هره ورځ ټولګي ته له راتلو وړاندې د پوهنتون رياست ته ځي او رئيس يې څه کېږي دريمه ورځ د پوهنتون انګړ ته نه وم داخل شوی چې د دروازې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ساتونکو لاس نیولی ریاست ته بوتلم هغه څه چې رئیس او استادانو راته وویل اوس په خوله نه راځي رئیس ته د سپکاوي په توریې په زورله پوهنتونه وشړلم پولیسو هم څوورځې بنه ووهلم اود وهلو زده کړه یې راباندې وکړه دا.دومره بده خبره نه وه خو ریس د حاکم مهم غړی وو.

پوهنتون رانه پاتې شو ډېره موده په عصبي تکلیفونو اخته وم د هرانسان لومړی مینه نه هېریدونکې ده هېرول یې بیاد هغه د واکه وتلي وي چې لږجوړشوم بیاترننه زه یم او اربړی اود پو هنتون انګړ اوس نه هغه استادان شته نه زده کوونکې خوزه بیاهم له دې پوهنتون سره مینه لرم د انجیلا یادونه مې اوس هم سوزوي.

دعبد ل کاکا ستونی له سلګیو ډک شو زه هم دملګروسره د ورستیو شپو د تېرولو لپاره پاڅېد م

۱۳۸۷\۹\۲۱

ننګرهارپوهنتون

بې وطنه

نورنوزموږ زاریو او ټینګار هېڅ ځای نه نیوه پولیسو دمها جرود کمپ مشرته دوه ورځې وخت ورکړی وو چې کمپ خوشي کړي اونورنو خپل وطن ته ستانه شي که نه دریمه ورځ سهار به یې جونګړې له کالیو سره یوځای په بلډوزرونو ونړوي پلار مې هم د نورو ورځو په خلاف ډېر خواشینی وو. دمابنا م له ډوډۍ وروسته مې مورجانې ته په دې قناعت ورکړچې پردی کټ ترنیمو شپو وي که نن نه وي نو سبا به خامخا پولیسو دغه کورونه ورانول خپل کلي کورته به لاړشو اووراني ځمکې به له سره اباد کړو دلته هسې هم چند ان دانسانانو زنده ګي نه لرو بس یوازې ژوندي پاتې یو اودجګروو ېره راسره نه شته.

مورمې سوړاو سېلی وکړاو ماته یې وکتل

سړیه ددوی تالیم مالیم به څنګه کېږي خدا ی خبر هلته به وشي او کنه ؟ هسې زماغوندې بې سواده پاتې نه شي.

موربه مې پلار ته سړی ویلو اوډېرځله به ماته پدې خندا راغله خونن خندامندانه وه زه هم وېرې اوذهني کشمکشونولاندې کړی وم .پلار مې دورته ډډ ه ووهله اودتیلي څراغ په رڼاکې یې ماته وکتل:

بچیه !اوس په ښه بد پوهېږې دومره څه دې زده کړې چې یوماموربیت وکړی شې

سباته چې لاړې دمکتب نه دې کاروبار خلاص کړه نورنو باید په یوه بله تمه پاتې نه شو څومره زرچې داوطن پرېږدو ښه به وي.

پلار مې ستړی وو اودمور مې هسې فکرخراب وو زه هم دې فکرونو په مخه کړی وم چې څنګه به هغه ټاټوبی هېرکړم چې خاپوړې مې په کې کړې دې همزولي اوملګرې په کې لرم په خاوروکې مې یې لوبې کړې ښوونځی مې په کې لوستی دا راته ترټولو سخته خبره وه چې دومره زر هرڅه هېر کړم خو د دې سره سره دښارپه کوڅو او ښوونځیو کې خلکو دمهاجرمهاجراوبې وطنه ناري راپسې وهلې او ځان راته ددې ټولو سره سره نااشناښکارېده

په همدې فکرونو اودیوه ناليدلي کلي په لوردستومانه سفر خیالونو دخوب څپه راباندې راوسته اوپه پردي هېوادکې دخپل اولس کلن ژوند ټول یادونه زماپه ذهن کې دفلم دصحنې په څېروګرځېدل

***

سهاروختي له چای خوړلو وړاندې دښوونځي په لوري لاړم دکان ته په رسېدو مې پلارراباندې غږ کړ

والکه ! نن دې ټول کارونه خلاص کړه چې دکورپنډ ې تړو نورنو هغه هم ددکان په کارون مصروف شو اوزه دښوونځي په لورپه نهیلي زړه روان شوم دښوونځي له دروازې نه وم ننوتلی چې دپولیسو ګاډی ودرېده اوراضیه تري راښکته شوه هغه زماټولګیواله وه پلاریې دپولیسوغټ افسر وو راضیه به دڅوارلسو پنځلسوکالو وه خو ماغوندې هلکان ورسر ه دماشومانوغوندې ښکارېدل هغه هم ښکلې وه اوهم یې په درس کې په ټول ټولګي کې سیال نه وو

(c) ketabton.com: The Digital Library

که څه هم زمونږ ښوونځی دډېروشتمنو کسانولپاره نه وو خو پلاریې ددې لپاره دلته راوستې وه چې یوورته ښوونځی نږدې وو او بل دا چې په ښو نومرو فارغه شي

راضيي په تېروڅوکلونوکې زما سره ډېر بد چلند کاوه مهاجر او غبي به یې بللم که هغه مې دزړه نه نه خوښېدی نه کله به مې یې هم دا کنځلې اوله سپکاوي ډک الفاظ نه وو زغملې خو ښکلایی زه په هرڅه ړوند کړی وم همدغه ویرې چې بیا به راته ښکنځل وکړي زما له لپاره دهغې دمینې اظهار ګران کړی وو

زما لیدو یوه شېبه تم شوه او له مسخرو او ټوکو په ډکه لهجه یې را باندې غږ کړ

نهاجره !چې په کورکې مو چای مای نه پیدا کېږي چې دومره وختي راغلې ...نه جي غلطه شوم پرو پیسران خو تل خپلو دند و ته وختي حاضري ورکوي هسې نه چې کومه زمه واري وربا ندې راشي که سنګه ؟

زما زړه له درده وپړسېده په سترګوکې مې اوښکې راډنډ شوې او ځان راته دیوه بې ضرورته انسا ن په څېرښکاره شو نورنه هغه ماته یوه ښکلې نجلۍ نه ښکارېده هغې په تېر وڅوکلونو کې هر ساعت ما او یو څو نورو مهاجروته دخپلو ملګرو په بدرګه داډول خبرې کولې خو مونږ به په عاجزۍ په غوږونو کې مالوچ منډلي وو او په یوه پردي هېوادکې مو دخپلې بې وسۍ ننداره کوله

زما دنورو مهاجرو ملګروکډې چې لاړې بیانوزه دهغوی لپاره دساعتېرۍ یوه ښه لوبه وم

په ژړغوني اوله تاثره په ډک اوازمې ورباندې غږکړ

راضې نورنو بس دې سبا که نه وي نو بل سبا ستاسې له ملکه دتل لپاره ځم دا ښوونځی به یوازې تاته پرېږدم یوازې نن ورځ اجازه راکړه چې خپل اسناد له اداري څخه ترلاسه کړم

دراضیې په رنګ کې نا څاپي بدلون راغی ځا ی په ځای حیرانه پاتې ودرېده خوزه مخامخ اداري ته لاړم خپله عریضه مې ورکړه او په انتظارکېښناستم دا داري له لویې کړکۍ ته مې کتل چې ټول زده کوونکي له لین وروسته ټولګیوته روان شول خوراضیه وړاندې اداري ته مخامخ ترونې لاندې حیرانه ولاړه وه اوله سترګویې مرې اوښکې رواني وې په څوساعتونوکې کارخلاص شو له مدیرصیب اونوروښوونکو سره مې خدا ی پاماني وکړه مخامخ خپل ټولګي ته دخدا ی پامانۍ لپاره روان شوم خوراضیه لاهم دښوونځي په انګړکې ترونې لاندې ولاړه وه اوزه یې دسترګوله کونجونو څارلم کله چې ټولګي ته ننوتم دا هم راپسې راغله له ښوونکي اوټولو ټولګیوالو سره مې مخه ښه وکړه راضیه هم په خپله څوکۍ ناسته وه دښوونکي په ځای یې له حسرته ډکې سترګې په ماکې خښې کړې وې

کله چې له ټولګي وتم نودټولو په سترګوکې حتې دهغوهم چې زه یې مهاجراوبې وطنه بللم اوښکې وځلېدې له وره مې چې دباندې قدم کېښود بې اختیاره مې دراضې غږغوږونو ته ورسېد

حمید جانه !کډه مو څه وخت ځي ؟

داغږ دومره بې اختیاره دهغې له خولې ووت چې نه یوازې مابلکه ټولو ناستو زده کوونکو په حیرانۍ سترګې وروا ړولې دراضیې په څېره کې دپرېشانۍ اواضطر اب نښې له ورایه څرګندې وې بله دا چې دالومړی ځل ووچې ما یې له خولې نه په دومره نازدمهاجریا بې وطنه په ځای خپل نوم اورېده ځان مې ناګاره کړ او په خپله مخه روان شوم

دویمه ورځ سهارمها ل زمونږ کډې په یوډول بهرنیو لاریوکې چې ټولې په یورنګ وې او په ترپالونویې سرې ټاپې پرې لګېدلې وې بارشوې اودپولیسو دګواښ سره سم بلډوزرونه راورسېد ل دکمپ له دروازې چې وتم دلارۍ له پاسه مې راوکتل لاندې راضیه په دروازه کې ولاړه وه دپلاستیکي ګلونو اوځونورې کڅوړې یې په لاس کې وې او په حسرت نیولې څېره یې له ساتونکو کمپ ته ددننو تلو اجازه غوښته خوزمونږ دکډې لارۍ په ډېره بېړه روانه شوه دلومړي ځل لپاره مې حس کړه چې هغې نوردا هېرکړې چې زه یو مها جراوبې وطنه یم

(c) ketabton.com: The Digital Library

## شهزاده

پاچا په خپله زرینه چوکۍ کې ځا ن تاوو کړ د ملکې خواته یې ناڅاپي سترګې وروا ړولې چې دغاړې په هاریې ګوتې وهلې او په څېره کې یې دژور خفګان نښې له ورایه برېښېدې خو پاچا بېرته دربارته وکتل او وویناته یې دوام ورکړ

ښاغلو !دلښکراعلی سرلښکر لاهم نه دی راغلی خوزما خبره په غوروا ورئ زما پلار معظم ټولواک دې خدای وبښي دننګ او غیرت په دې ډول خبروا و معاملو کې یې چاته دومره دخبرو او مشورو موقع نه ورکوله هغه هرڅه په توره فیصله کول او یوازې دمېړنیو قدرورسره وو خوکله چې هغه له خپل مرګ یو ساعت وړاندې ددغه هېواد دپاچاهۍ تاج زما په سر کېښود نو یوه خبره یې راته دوروستي وصیت په ډول وکړه هغه دا چې له دربارسره به په هره جګړه او جشن کې مشوره کوم که ماته مې خپل پلار دغه وصیت هم نه وی کړی نو ما به په داسې ورځو کې لکه نن چې زموږ سرلوړی ولس ورسره مخ دی له تاسې سره مشوره کوله خو زه نه پوهېږم چې سرلښکر صیب له مانه په څه خبره دومره خفه دی چې تراوسه دربارته نه دی حاضرشوی

ښاغلو !نن هغه ورځ نه ده چې تاسې په داروښاد معظم ټولواک په ژوند دخپلو دښمنانو دځپلو لپاره په خپله خوښه دجکړو ډګرونو ته روان وی نن زموږ دښمن موږته ګوا ښ کړی هغوی فکرکړی چې دمعظم ټولواک په مړینه زموږ پاچا هي کمزورې شوې اودوی فکرکوي چې دخپلو تېروماتو جبران به وکړي

په دربارکې ناڅاپي چیغې شوې

موږ دخپل ځوان شهزاده په مشرۍ دخپل سرا ښښود لوته له همدا اوس نه تیاریو موږ به دخپل دښمن دپاچاهۍ تخت دخپل ځوان ټولواک په پښو کې خاورې کړو

ژوندی دې وي زموږ شهزاده !

ژوندی دې وي زموږ شهزاره !

پاچا یوځل بیا دلاس په اشاره هغوی غلي کړل خو یو سرتېری لا هم ولاړ وو

ښاغلو !شوراوزوږ نه ته حاجت زموږ هېواد او پاچا هي په خطرکې ده هغه خاوره چې تراوسه ددښمن په پښو نه ده لګېدلې دښمن یې دلاندې کولو نیت کړی خوزه وایم چې دغه ویاړلې خاوره به زموږ سرتېري په خپلو سرونو وساتي

ولاړ سرتېري لاس اوچت کړاو دخبرو اجازه یې وغوښته په ادب یې خبرې پیل کړې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښاغلی ټولواک !داځل به جګړې ته يوازې سرتېري نه بلکې ټول اولس به روان وي زه د سرلښکرساتونکی يم هغه بهر دلښکرليکې معاينه کوي اودتيارسۍ قومانده ورکوي ډېرزربه ستاسې په حضورمشرف شي

سرتېري سلامي وکړه اوپه خپل ځای کښېناست دملکې نه نيولې ددربارترهر وزير پورې په ټولو دخفګان سيوری خپوروو پاچادجګړې په اړه خبرې کولې چې يو سرتېری له سلامۍ اورسمي ادابو وروسته راننوت او غږيې وکړ

ښاغلی عالم پناه دې ژوندی وي دقدرمن سرلښکر ستاسې په حضورکې دمشرف کېدواجازه غواړي

پاچاپه لوړاواز ځواب ورکړ

احمقه !دهغه په مخ چاددربار دروازې تړلې دي زريې راوله له ډېره وخته دهغه په انتظاريم اوس په له خيره وروستۍ پرېکړه کوو

ټولو ددربار دزرينې دروازې په لوري وکتل دروازه خلاصه شوه يو دپاخه عمرخاوند چې لوړقد ،اوږده ږيره ،اوږده بانه يې لرل سرترپښو په زغره کې پټ وو راننوت په مخ اولاسونويې دپخوانوزخمونو نښونښودله چې دځوانۍ عمريې ټول په سختوجګړوکې تېرکړی دی ټولوته يې سلامي وکړه اوبيامخامخ دپاچااوملکې خواته ورغی په ملاخم شو بيادوه درۍ ګامه شاته په ادب ودرېد.

صيب دلښکرپه نظم بوخت وم وبښۍ چې په وخت ستاسې په حضورمشرف نه شوم

پاچا اوملکې دواړو دلښکرمشرته وکتل پاچا پوښتنه وکړه

هغوی به کله روانېږي ؟هروخت چې يو مناسب قومندان ورته پيدا شي

پاچاحيران شو اوله خپلې زرينې چوکۍ راپاځېد

داڅه وايې ستانه به مناسب سرتېری زموږ په پاچاهۍ کې چيرته وي ؟ته هغه څوک يې چې زماپلار دغه پاچاهۍ تاج زماپه سرايښی خوتوره يې تاته درکړې داتوره تاته هسې نه دته درکړل شو ې ته چې کوموجګړوته تللی يې نوموږخپل بر ی يقينې ګڼلی

دلښکرقومندان يې خبره ورپرې کړه

زه غواړم چې داځل دې دلښکرمشري ستاسې نازولی شهزاده وکړي ستامشرزوی اوس دادې پنځه ويشت کلن دی ددې جګړې لارښوونه بايدهغه وکړي زه حاضريم چې ديوه عادي سرتېري په بڼه دهغه ترمشرۍ لاندې وجنګېږم

دپاچاپه څېره کې دپرېشانۍ اوخفګان نښې لازياتې شوې څوقدمه وړاندې راغی اودسرلښکرپه اوږه يې لاس کېښود

ښاغليهِ !ته زموږدپاچا هۍ توره يې تاسره داخبرې ښې نه دي ته يوازينی کس يې چې په دربارکې دې هره خبره اوربدل کېږي خوددې سره سره په دربارکې داخبره خپرېږي چې ته زمانه خفه يې ؟

سرلښکرمخ ددربارخواته راوګرځولو اوپه خبروشو زه يو سرتېری يم دسرتېرودعمل اوازمويښت ځای دجګړې ډګروي نه چې ددربارپه قالينوودريږېږي اود طوطي غوندې خبرې وکړي

ښاغلوِ !زه دخپل زړه خبره غوڅه کوم دتېرودوومياشتو راهيسې زموږدپاچاهۍ شهزاده نه معلومېږي په لښکردهغه په اړه دووخبروزوراخيستی يوداچې هغه معظم پاچاپه دې توروژلی چې دهغه په وړاندې دپاچاهۍ دعوه ونه کړي بله داچې ټولواک صيب غواړي هغه زموږنه پټ وساتي هغه دجګړې له ميدانونو ،توراو مرګونو لرې يو نازولی ځوان رالوی کړي اوڅه ضرورته ونه رسيږي حا ل داچې هغه په دې هرڅه پوهېږي معظم ټولواک بايدزموږدپاچا هۍ دنورو ټولواکانو په څېر دشهزاده ګانو او په زړونوکې دنازاونخرو په ځای دجګړې ،سپا هيتوب ، غيرت ،قربانۍ اومرګ کيسې پرېږدي

(c) ketabton.com: The Digital Library

موږ خپل تاریخ یوازې د همدغه ځانګړتیاوو په اساس له نورو پاچاهیو بېل کړي یو او ملت مو په سرلوړۍ ژوندکوي که معظم ټولواک زموږ د پاچا هۍ شهزاده له همدې وېرې وژلی وي نوزه دداسې پاچاهانو لپاره دتورې او چتول څه چې دجګړې په وړاندې یوقدم هم ګناه بولم که شهزاده ژوندی وي نوزموږ دلښکرمشري دې ضرورورسپارل شي ماته دجګړې له ډګره دسر تېرور وزل ډېر ضروري دي ښاغلی شهزاده مادوه میاشتې وړاندې دخدای ښنلي مشر ټولواک په وخت کې دجګړې په لومړیو لیکو کې لیده هغه مهال چې دلښکر مشري زموږ داوسني ټولواک صیب په غاړه وه په هغه جګړه کې زموږ دریمه برخه سر تېري ووژل شول خو بری مو ترلاسه کړ ما دجګړې ټول مړي وکتل چې خپل ملګري کو چنی شهزاده پکې وګورم خو هغه په مړو کې نه وو راته معلومه شوه چې بېرته راغلی دی خو......

پاچا دخبرو بس کولو اشاره ورته وکړه او دربارته یې وکتل ټولو وزیرانو په چوکیو کې خپل اړخونه بدلول او خولې یې له حیرانۍ وازې نیولې وې

ښاغلو ! اوس ددې وخت نه دی چې په دې وړو وړو خبروبحثونه وکړو که زمو ږ دپا چا هۍ دتېرو بریو تاج دلښکر دسر قومندان صیب په سرنه وی نو نن به بې سر دتل لپاره له تنې مخه ښه کوله دا لومړی ځل دی چې په یوه پاچادخپل بچي دوژلو تورلګول کېږي خوکه سباته زموږلښکر ددښمن ترښارا وزندانه ورسېږي نو دلښکرښاغلی مشربه بیا په خپلو خبرو پښیمانه وي

پاچا سرلښکرته وکتل او ارام په څوکۍ کښېناست خو سرلښکربیا خپلو خبروته دوام ورکړ

زه ستاسې یو سرتېری یم زه هغه کس یم چې دوه میاشتې وړاندې مې ددښمن سره په جګړه خپل درې واړه زلمي زامن دسلګو او ځنکدن په حالت کې په وینو لړند پرېښودل او ددښمن اسونو یې جسدونه له پښږند ګلوۍ ویستل هغوی درې واړه زما دزړه ټوټې او دشهزاده ټولګیوال وو نن دهغوی نوم نښان نه شته او نه یې ددې ځمکې په مخ دمزار په نامه څه موجوددي زه له معظم پاچانه داپوښتنه کوم چې زما دغه درې نوم ورکې زامن اوددې پاچاهۍ یو شهزاده دکومو ځانګړتیاوو په اساس سره بېلېږي

ښاغلو !ماکومه کوستاخي نه ده کړې مایوازې هغه له حقیقت نه پرده پورته کړه چې ددربارمشران یې دخپلو مقامونو دساتلولپاره نه شي ویلی زه یوازې داوېل غواړم چې په دې دربارکې باید یو شهزاده او دلښکرعادي سرتېری هېڅ فرق ونه لري چې دا په تېروزمانوکې زموږ دپاچاهۍ دپاتې کېدو یوراز وو معظم ټولواک ! که زموږ شهزاده ګان همداسې په ناز او نعمتونو کې دجګړې له ډګره لرې دشاهي ماڼۍ په ښونو او دمرمرینو ماڼیو په پالنګونو کې رالوی شي نو داسې و

ګڼه چې سرله اوسه زموږ دشاهي ماڼۍ دبنسټ ډبرې په وتو شوې او تاریخ........

سرلښکرلاخبرې نه وې خلاصې کړې چې ددربار دروازه خلاصه شوه یو لوړرتبه سرتېری دپاچا خواته په ساه نیولي اندازې دپاچامخې ته خبرې په ورخطا انداز خبرې پیل کړې

صیب ددښمن لښکرزموږ دسرحد یو کیلومترۍ ته رارسېدلی او په ډېرې تېزۍ سره زموږ دې خواته راروان دی که سرله اوسه یې مخه ته ورروان نه شو نوزموږ له سرحده به راداخل شي او زموږ پاکه خاوره به په خپلو قدمونو ناولې کړي

په دربارکې شورجوړشو ټول پا څېدل سرلښکر دملکې او پاچالاسونه ښکل کړل او بې له څه خبرو له درباره په منډه ووت.

* * *

دپاچا هۍ په سرحدکې له دولس ساعته سخې جګړې نه وروسته ددښمن لیکې کډې وډې شوې او سرلښکر یې د پاچا هۍ د سرلښکر د یوغیښي ښکارشو هره خوا ددښمن دسرتېرو امبارونه جوړوو هره خوا ویرونه

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوکریږي اوربدل کېدي نورنو دپاچاهۍ سرتېروته یوازي ددښمن تعقیبول ورپاتې وو ،ټوله شپه په ښارکې نښتې راونې وې ددښمنانو پاچااوملکه هم په تیاروکې په تېښته بریالي شول دسهاردلمرراختو سره دلښکرمشر دپاچاهۍ بیرغونه دښارپه ټولولوړزبرجونوورپول بیاپه اس سپورشو اودزندان دروازه یې ماته کړه دزندان نیمایي برخه هم دده دلښکر هغه سرتېري ووچې دتېروجګړوپه مهال دښمن نیولي وو ،سرلښکرته ټولوزند انیانوپه خوښۍ غاړې ورکولې اوخولې یې له خوښۍ وازې پاتې وې سرلښکردزندان دیوې ښکلې وړې کوټې قفل مات کړاودروازه یې خلاصه کړه دپېلوڅې په تتنه رڼاکې یې په یوه بندې سترګې ولګېدې چې په لاس اوپښوکې یې زولنې وې، سریې ځوړنداچولی وو ،سرلښکردهغه سرله زنګون رااوچت کړبندي چې په مخ اولاسونویې دزخمونو نښې وې ده ته مخامخ وکتل دسرلښکرخوله له حیرانۍ وازه پاتې شوه ،توره اوخنجریې له لاسه پرېوتل اوبندي یې په غېږکې ټینګ کړ

زماشهزاده ! زمادزړه سره !زمریه !زمافکرونه غلط ومافکرکاوه چې ته به موږ نه پټ دپاچاهۍ په ماڼۍ کې دعیش اوخوښۍ ژوند تېروې ماوېښه ژوندی دې وي زموږمعظم ټولواک ،راځه ته نوربندي نه یې راځه ښاغلیه !چې ددغه ستربري زېری خپل دربارته کړه یوسو دسرلښکرله سترګواوښکې راماتې شوې اودشهزاده دزولنو په ماتولو بوخت شو.

١٣٨٨\٢\١٦

## وروستی فصل

په خپل ورځني مهال وېش کې یې دشپې یوه اوږده برخه دخپل نوي داستان دځینوبرخو لیکلوته ځانګړې کړې وه.

هغه به چې ماښام ناوخته دورځپاڼې له دفتره کورته راغی نودورځنیوتودوپېښواوخبرونولیکلوبه یې زهن دومره خوړلی وو چې دکورنۍ دغړوسره به یې هم په ورین تندي خبرې نه کولې دډوډۍ تروختـه بـه یې په یوه اوبله ځا ن بوخت ساتلوپه زهن کې به یې لاهم ورځنۍ پېښې اوخبرونه روان وو.

هغه به په همدې ځوانۍ اومجرد ژوند کې دومره فکري او خاموش وو چې ډېردپاخه عمراوسپین ږیري کسا ن هم داسې نه وي خوکله یې چې په ورځپاڼه کې خپل پرلپسې داستا ن پیل کړنو طبعه یې ترپخوا هم ناارامه شوه اودیوه ناکا م مین په څېربه یې چرتونه وهل ورو ورویې دکورنۍ غړي هم ورسره بلدشول اوهغه یې په دې اړه سپیناوي تـه نـه مجبورولوله ډوډۍ خوړلووروسته بـه سیخ خپلې کوټې تـه ننوت وربـه یې ځا ن پسې بند کړ اودداستان په لیکلوبه بوخت شو ډېرې پاڼې به یې توري کړې خوچې دلوستلووروسته به یې خوښې نه شوې ټولې به یې ځیرې کړې اولیکنه به یې له سره دخوښۍ په څرګندولو پیل کړه ترهغه به په لیکنه بوخت وو چې دخپل داستان له اتلانوسره به په خپله په خوب کې روان شو له هغوسره به یې خبرې پیل کړې هر یوه به ورتـه چېغې وهلې چې داستان یې زرخلاص کړي ډېروبه ګیله تري کوله چې ولې یې کېسې دښارزرګونو خلکوته رسولې.

سهاربه چې لیکوا ل دخوبه راپا څېده نوګڼې پاڼې به تربنه لاندې پرتې وې نن ماښا م یې دورځپاڼې دمدیرنه اجازه وغوښته اوورته ویې ویل چې دداستان وروستی فصل لیکي هغه دخپل دې داستا ن په سبب دورځپاڼې په مدیردومره ګران وو چې هرغوښتنه یې منله نوځکه خویې نن هم اجازه ورکړه چې دداستان وروستی فصل بشپړکړي.

په لارويې په ذ هن کې بېلابېل فکرونه ګرځېدل هغه مجبوروو چې نن شپه دداستا ن اتل ووژني هغه کس چې دتېريوه کا ل نه راپه دېخوا د هغه دنيموشپو ملګری وو اودزړه کېسې يې ورسره کولې په وروستي فصل کې دداړه مارانوله خوادداستا ن شريف اتل له ټولو ملګروسره وژل کېدولو .

هغه له ځان سره فکرکاوه لکه په ريښتيا چې بيګاته قتل کوي ځا ن ورته يوقاتل ښکاربده هغه دداستان په پيل کې دمقدمې په ډول ليکلي وو چې دايوريښتني داستا ن دی خودايوازې د ه ته معلومه وه چې په څومره مهارت يې په يوه خيالي داستان دورځپاڼې له مسئول مديرنه نيولې ترهرعادي لوستونکي تېرايستلي دي.

دداستا ن اتل ورته دومره ګران شوی وو چې اوس ورته دوروستي فصل ليکل له حد ه سخت وو ځکه چې په دغه فصل کې يې بايد هغه وژلی وی.

د شپې ناوخته يې دکوټې ورپه ځان پسې بند کړ په سپينو پاڼويې څوځله قلم وخوځولو خوداتل دمرګ صحنې ته به چې ورلنډشو بيابه يې زړه درد وکړ دبدماشانودډلې پياوړی قاتل به چې داتل څېره دتومانچې په دوربين کې راوسته نودهغه قلم به ځای په ځای په پاڼه مېخ شو شاپه تخته به اوړود وغځېد اوپه ګوتوبه يې لړزه راغله له ځان سره به يې په لوړاواز خبرې پيل کړې.

دهغه په ځای زه دوژلووړيم مادرورځپاڼې ټول لوستونکي ددروغو په يوه خيالي داستان وژړول نوربايد هغوی ته حقيقت ووايم اوښه تري وغواړم زه نشم کولی هغه بې ګناه ووژنم يوازې ددروغوګناه مې بس ده نه غواړم يوقاتل شم.

بيا په ځای کې راکښناست ګوتو اوقلم يې له پاڼو بل خوا زورکاوه له مجبوريته يې قلم په سرپوښ کې بند کړ دداستان لوستل يې يوځل بيا له سره پيل کړل نيمه شپه کېده چې ټولې پاڼې يې ولوستلې اودوروستي فصل سپينې پاڼې ته راورسېد زړه يې دداستان په ليکلوله پښيمانۍ ډک وو هغه نن شپه مجبوروو چې دداستان وروستی فصل وليکي اودداستان اتل له خپلو ټولو ملګروسره ووژني خودقتل خبره به يې په زړه دغشي په څېرولګېده.

په سترګويې تپه تياره شوه بيايې دکوټې دېوالونوته وکتل اوچيغې يې کړې.

زه قاتل نه يم !هغه هېڅ ګناه نه لري دداستان وروستي فصل ته رسېدلی يم لاهم نه پوهېږم چې داستان مې کوميډي دی که تراژېدي نه....نه داهرڅه لاهم زما په واک کې دي بايد خپله دداستان وروستی فصل شم.

قلم يې راواخيست بې اختياره يې په ليکلوبوخت شو په څوشېبوکې يې شپږ اوه پاڼې تورې کړې په تندي يې په يخه هواکې دلومړي ځل لپاره خولې راماتې شوې دداستان وروستي فصل ته يې دپای ټکی کېښود نيته يې وليکله اوپه بېړه اوچت شوله مخامخ الماری نه يې يوه نوې تمانچه راواخيسته اوخپل تندي ته يې برابره کړه په کوټه کې له يوه درانه اوازسره ليکوال دوروستي فصل په پاڼو پرمخې راورغورځېده.

دورځپاڼې لوستونکې سباورځ دورځپاڼې ترلاسه کولوپه انتظاروو اوکله يې چې دداستان دوروستي فصل لپاره دورځپاڼې پاڼې واړولې نوپه ځای يې دليکوال تصويراوناڅاپي مړينې خبردوروستي فصل په نوم خپاره شوي وو.

۱۳۸۸\۱۱\ ۱۵

(c) ketabton.com: The Digital Library

# زنداني

که دا زېرى ډېرنه لس کاله وړاندې پرې شوى واى نو شايد چې د زندان نه له وتلو وړاندې به يې له ډېرې خوښۍ ساه ورکړې وه خو اوس چې دولسشمر د فرمان سره سم د هغه د زندان د ېرش کلن ژوند پاى ته ورسېد نو دده لپاره کومه نوې او په زړه پورې خبره نه وه .

ادم خان اوس هغه پخوانى ادم خا ن نه وو چې هره شېبه به يې کوراو بچيانو په يادله سترګواوښکې روانې وې هغه اوس دا بېخي هېرکړي وو چې هغه يو وخت د يوې شتمنې کورنۍ غړى وو او دښه ژوند خاوندو وله زندان او دغه تکې تورې کوټې سره يې دومره عادت اخيستى وو چې نورنو د ازاد ژوند خيال هم ورسره نه وو له زندانه ورته وتل داسې ښکارېدل لکه څوک چې له خپلې معشوقې نه جدا کېږي ،د ېرش کاله چې يو څوک له خپلې کورنۍ او خپلوانو ورک شي او د هغه غوندې په زندان کې عمرتېرکړي نو د هغه زړه به خامخا د دردونو په کرونده بدلېږي

ولسمشر به خداى خبر د کومې خوښۍ په وياړ د غه مجرمين معافي کړي وو کنه هسې خو اخترونه پخواهم تېرېدل خو دادم خا ن غوندې زندانيانو ته يې رښتيا هم کار کتلى وو

ادم خان لا په دغه ذهني کشمکش کې وو چې يوه سرتېري دروازه ورخلاصه کړه يوه جوړه جامې يې په مخ کې ورته وغورځولې او په خنداډوله لهجه يې ورته زياته کړه :

ـ پاڅه خېرنه !اوس دې لکه چې کورته زړه نه کېږي ادم خان په رډورډو سترګو سرتېري او بيا جامو ته وکتل خو هغه ورته بيا يو قدم راوړاندې شو .

هسې ولسمشر په تاسې مردارخورو مهربانه شو پاڅه په نيم ساعت کې جامې بدلې کړه کوټې ته بل زنداني راځي کوراو خپلوا ن به لرې، کنه بيا پخواني يادونه درته تازه کوم د پخوانو يادونو په اورېدو سر ه ادم خان په ځاى کې رانېغ شو

ـ ځم صيب ځم .....هسې پښې مې لړ ږدردکوي !

* * *

په کلي کې سهاروختي شورما شور وو هرچا د اختر لپاره تيارى نيوله د قربانۍ مالونو په هرانګړاو مال ځاى کې بغارې وهلې د جومات ملاصيب په لاسپيکر کې وينا کوله او خلک يې ښوکارونو او د قربانۍ فضليت او يو دبل سره پخلاينې ته رابلل په همدې شېبو کې يو ډنګر وچ کلک انسان چې لويه خېرنه ږيره او زېړرنګ يې لرلو او د چرسي غوندې ښکارېده کلي ته ورننوت له شانه يوه ډله شوخ ماشوما ن ورپسې وو او دلېوني لېوني نارې يې پسې وهلې.

ادم خان په دې د ېرشو کلونو کې هرڅه هېرکړي وو خو دخپل کلي نوم يې نه وو هېرکړى په ښارکې يې هم خپل پخوانى کورپيدا کړ خو پيره دار ورته وويل چې د کور مالکان ټول د اختر لپاره کلي ته تللي دي

ديوه لوکس او ښکلي کوردروازه يې ټک ټک کړه په لومړي ځل يې په زړه کې سبک پيدا شو زړه يې درزا پيل کړه د خپلې کورنۍ د د ېرشو کلونو پخواني يادونه يې په ذهن کې وګرځېدل په سترګوکې يې اوښکې راماتې شوې د دروازې د دويم ټک ټک سره دانګړنه د چاد پښو ښکالو اواز راغى او بې له ځنډه دروازه خلاصه شوه يوه شل کلن ځوان ادم خان ته په کرکجن نظروکتل او په غوصه يې خبر ې پيل کړې

مردارخوره ولې زنګ نه وهې چې د دروازې رنګونه الوزوې نن ورځ د سوال او سوالګرۍ نه ده چې ته دلته ولاړيې وام څه دد ې ځايه ورک شه که نه د پسه په ځاى به دې قرباني کړم

ادم خان يو قدم وروړاندې شو په شمېرلو الفاظو يې خبرې پيل کړې:

(c) ketabton.com: The Digital Library

وه ځوانه !ته زما خپل یې زه سوالګرنه یم خپل کورته راغلی یم ځوان وخندل او زیاته یې کړه
واه وا پکه دادې لا بله سپکه او س دکور دعوه هم کوې وا م ځه په جومات کې کېښنه چای هم وڅښنه او خلک به
پیسې هم درکړي ځه له دې ځایه دې دا بده ښېره دې ورکه کړه چې زموږ ماشومان به وو بروې !
په سترګو کې دا وښکو بهیر رامات شوا و ځوان په اوږه یې لاسونه کېښودل
بچوزه سوالګرنه یم ادم خان نه یم خپل کورته راغلی یم ځوان یو قدم تر ې شاته شوا و په شونډو یې قهر جنه موسکا روغوړېده.

ځه خبرنه ددې ځایه ورک شه زما ادم خان لالا خو یې د پرش کاله وړاندې شهید کړی یا زه دومره جاهل یم چې خپل ورورونه پېژنم په ټپلو ټپلو یې له دروازې نه لرې کړا و دروازه یې بنده کړه.

زړه یې دکانې په ښېرکلک شو بېرته په راغلې لار روان شو دخپل کشرورور عظم خا ن خبرو یې په ذهن کې شور جوړ کړی وو پر لپسې تند یکونه یې خوړل لس پنځلس ګامه نه وو تللی چې له یوه تند یک سره په ځمکه راولو ېدا وله خولې یې سوررنګه وینې داره وکړه.

کتیبه لیکونکی

هر سهار به چې د پوهنتون په لور روان شوم نو ضرور به مې په لاره کې دهغه ځوان کتیبه لیکونکي پو ښتنه کوله او ثو شېبې به یې په واړه کې دکان کې ورسره تم کېدلم.

دهغه په کوچني دکان کې به دمرمرینو ډبرو سپین ګرد خور وو خوله او پزه به یې په دستما ل تړلې وو اوزه به یې هم په خبرو سم نه پوهېدم خو تر ټولو په زړه پورې راته هغه بیتونه وو چې دنوو قبرونو لپاره به یې په نوو کتبیو لیکلي وو او هرلا روي به له دکانه بهر ورته بو ځل خامخا کتل.

دیو ځو بیتونو په لوستلو به مې دغه نړۍ په سترګو کې تته شوه هر څه به راته پیکه ښکارېدل په کتیبو ټول لیکل شوي بیتونه دومره دردونکي وو چې یوه شیبه هم ترې زړه نه صبرېده ددنیا دبدرنګۍ او داخرت ښکلا ټولې خبرې پکې بیان شوې وې.

په ژوند لیکونو کې دښارډېر مشهورکسا ن هم وو چې کتیبه لیکونکي ورته په خپل ذوق او ځانګړې ډېزاین د هغوی ددې نړۍ وروستۍ پتې پرې لیکلې وې.

ددغې دردونکو بیتونو ټاکنه دکتیبه لیکونکي دځانګړي زوق څرګندونه کوله یو څو بیتونه به یې ستاسې لپاره هم راوړم.

په مزار مې ولې پټه خوله تېــــرېږې
سپېرې خاورې خو مې غېږکولی نشي

***

داپه یاد دمحبت درسره واخله
دژوندون شمعه به مړه وي مونږبه نه یو

***

راشه په سلګو کې دکفن غوټې مې پرانېزه
هغه سترګې پټې شوې چې ته ترې شرمېدې

***

ګورهم وران نه کړستا تصویرزما په سترګو کې
خو اخېرمېږیانو کړه راجوړه نړۍ لاره په سترګو

***

په ژوندون دې چې زما ونه کړقدر

(c) ketabton.com: The Digital Library

پس له مرگه مې بيامه ژاړه په قبر

***

قبرسوری کړه حال مې گــــوره

په خمارو سترگو مې پربوتل گردونه

همداسې نور دي تـه ورتـه بيتونـه چې دډيـري لرغونـو شـاعرانوو پـه مرمرينوکتيبو ليکـل شـوي وو چې لوستونکوته به يې دمرگ ښېره اودهديرې درد نه چوپتيا يادوله.

هغــه دومــره شــهرت تــه رســېدلی وو چــې دښارډېروعمرخوړوکسانوبه لاپــه خپــل ژونـد هـم دشـناختې جوړولوډيزاين اوليکنه ورکوله هلته له هرچانه دا خبره هېرېده چې يوازې بوډا اگان دمرگ خولې تـه نږدې خلک دي.

ځکه هلته دماشومانو ،زلمو ، دځگرو دشهيدانواوبوډاگانوټولوژوند ليکونه موجود وو اودهر چادمرگ نېټې يې په مرمرينوکتيبو ليکل شوې وې زه په پوره باورويلی شم چې له دنياوي چاروبه مې زړه مات شو نوهلته به ورغلم اويوه شېبه به مې دهمدغه ناليدلي موجود په اړه سوچونه کول.

نورنو دواړه دومره سره اشناشوي وو چې دځينوکتيبوپه ډيزاين اودرنگ پـه انتخاب کې بـه يې هم زماسره مشوره کوله او په ساعتونووخت به مې دهغه له گردونوپه ډک دکان کې تېرېده.

دهغه ټول مشتريان داسې کسان وو چې خوښې بـه يې نـه پېژندې د ټولوبه ځوک مړه وو اويابه يې لـه وړانـدې دکتيبې لپاره ليکنه ورکوله.

يوه ورځ دجمعې په ماسپښين دهغه خواته ورغلم زماپه ورتلوپاځېده اودلومړي ځل لپاره يې پـه خندا غـاړه راکړه لوی لوی بريتونه ،وروځې اوبانه يې دمرمروپه سپين گرد لړلي وو.

مالابله خبره نه وه کړې چې يوې لويې مرمرينې کتيبې ته يې اشاره وکړه.

ته وگوره نوی ډيزاين دی!

ددکان پـه کـونج کې ابښې کتيبې تـه نږدې ورغلم چې پـه سرکې يې دنورو دردونکوبيتونوپـه ځېربيتونـه راغلي وو ټوله مې په بيړه ولوسته لاخلاصه کړې مې نه وه چې د درد يوڅپه راباندې راغله داڅه کوې خپل ژوند ليک دې په ژوندون ليکلي !؟

هغه بياوخندل.........

ملگريه !په ژوند هېڅکله هم اعتبارنشته.

هسې نه چې بيازما په ذوق برابرکتيبه راته څوک ونه ليکي.

هغه خپل ټول ژوند ليک په نوي ډيزاين ليکلې وو خودوفات نېټه يې په قوس کې خالي نيـولې وه دکتيبې پـه لوستلودومره ووېرېدم چې په بدن مې لړزه راغله.

خوهغه بياغېږراکړه.

ويرې اوفکرته اړتيانشته مرگ ماته اشنا دی زه اومرگ هـره ورځ ددووماشومانوپه ځېريودبل سره لـوبې کـوو زما ټول عمردمرگ په ياد تېرشوی زمادژوند يوه شېبه هم ددغې ښاغلي دياده خالي نه ده نوبياولې تـرې وډارشم که نن نه وي نوسبابه خامخا غاړه ورکوم.

هغه په مادومره ا ثروکړچې دمرگ ياد به هرځای د سيوري په ځېرراسره روان وو په اونۍ کې بـه يويا دوه ځله دښارلويې هديرې ته ضرورورتلم کتيبې مې لوستلې او په دعا مې لاسونه اوچتول .

(c) ketabton.com: The Digital Library

یوه اونۍ وروسته بیا هدیرې ته لاړم د هدیرې په لمن کې یوه نوي قبرزماپام ځانته واړولو چې ښکلې مرمرینه کتیبه پرې ولاړه وه او په پنجره کې یې درنګ بوتلونه او واړه برسونه دواښو په سرپراته وو.
دعادت سره سم مې دکتیبې په لوستلو پیل وکړ لانیمایي مې نه وو لوستي چې دسرو یښته مې نیغ راودرېدل داهماغه کتیبه وه چې یوه اونۍ وړاندې مې دهغه په دکان کې لوستې وه. لوستو ته مې دوام ورکړ خو اوس هغه خالي ځای په یوه نیټه ډک وو او ترڅنګ یې دکتیبه لیکونکي دسرطا ن ناروغۍ یادونه هم شوې وه.
۱۳۸۸\۱\۱۳

په زندان کې زېږېدلی ماشوم

دماشومې غوټۍ ټول عمرله ۱۸ میاشتو څخه زیات نه وو دښار په زندان کې ترټولو کوچنۍ زنداني وه بلـه داچې هغې اجازه لرله چې په زندان کې ازاده وګرځي اودنوروبندیانوخونو ته ورشي لـه نامـه سره یې هرزنداني اشنا وو کله چې به څوک دخپلوزندانیانو پوښتنې او احوال اخیستنې ته راغلل نو یوځل به یې وړوکې غـوټۍ هم ښکلوله او په لاس کې به یې یو څه ورکول.
هغه په زندان کې ترټولو کشره زنداني وه.
سلما او سدوخا ن چې کله پولیسو ددوو مجرمینو په نوم په دغه زندان کې واچول نو دا هغه شپې اوورځې وې چې دواړه په یوه اوبل دزړه له کومي مین وو سلما په لومړي ځل پـه خپلو رګونو کې دیـوې ربښتنې مینې خوځښت حس کړی وو هغې له سدوخان سره واده وکړ خو دژوند خوږې ورځې او شپې یې په زندان کې تېرې کړې او دمینې لومړۍ میوه یې همدا غوټۍ وه.
غوټۍ دزندان په تنګه فضاکې دسلما او سدوخا ن له غېږې روټوکېده یاکـه لرېـل ډول وو ایـو هغـه ددوه داسې انسانانولوروګڼل شوه چې دتیارو داوږدو مزله نه یوې روښنایي ته درسېد وسره سم یې خپـل لومړي قدمونـه بیاپه یوه تیاره واټ کېښودل دغوټۍ لومړۍ ژړا هم د هغه زندان په چاپېریا ل کې اوچته شوه چې لـه کریـږو او سړو اوسیلو سره له پخوانه اشنا وو اوبیاداسې وخت هم راغـی چې غـوټۍ ټولوزندانیانوو پېژنده اوهرچابـه نازورکولو دخپلو اولادونو تنده به یې پرې ماتوله.
هغه به ډېرځله دالا هو په ځای دزندانیانو ساړه اوسیلي او د زولنو شرنګا اورېدلـه حتی چې دخپـل زنداني پلار اویامورغېږې ته به هم ورغی نو هغوی به ورته دحسرت اودرد له اوښکو او اوسیلو پرته بل څه نه ډالۍ کول
.
ډېرځله به چې غوټۍ دزندان په دهلیزونو او انګړکې ستړې شوه نو دسلما غېږې تـه بـه یې پناه وروړه سلما به دزړه غوټۍ دزولنو په شرنګهاراوده کړه ا وخپله به دسړو او سېلو سره پخوا زمانو ته لاړه...
پـه اورکې هغـه څـوک سوزي چې اورپـرې بلېـږي هوځکـه خود سلمادښکلااوجما ل لـه زوره هغـه څـوک خبروو چې پـه ژوند کې یوځل دهغې دلیدووياړورپـه برخـه شوی وو ددې مـا حول نږدې کلي کورونـه څـه چې دښار په لرې څنډوکې هم ډېروخلکو دهغې صفتونه کول.
که به د هغوی په ګاونډکې دبل چا دښکلا ستاینه هم کېدلـه نو دسلما ښکلا دهغوی لپاره یولوړمعیاراونمونـه وه اوویل بې چې دسلما په څېرښکلې ده هغوی ملامت نه وو دسلما پـه څېـره کې فطري ښکلا غزونې کړې وې دغرونو طبعت، رنګ اوبوی یې درلود دسلماپلاریوشتمن کو چی وو خوخدای خبرچې ولې یې دغرنې ژوند نـه زړه تورشو ټول مالونه اورمې یې وپلورلې اوبلا خره یې دښار په دغه برخه کې یو کوروا خیست یوکا ل وروستـه

(c) ketabton.com: The Digital Library

يې خپل بچيان ښوونځي ته واستول سلما هم په کوچنيوالي کې په زده کړو پيل وکړ خو خبره چې د هغې ترشل کلنۍ ورسېده نو په طبعت کې يې هغه خويونه نه وو پاتې کوم چې غرنۍ او کليوالي پېغلې ورباندې ښکلې وي، د ښار په رنګ لمبېدلې وه او حتی تردې چې په ښاري سينګارکې يې تربل هرچا زيات افراط کاوه او د خلکو سترګې يې په زور ځانته وراړولې له دولسم نه ترفارغېدو وروسته يې پلار ديوه سوداګرزوی ته ورکړه دا پرېکړه د سلما د خوښې خلاف وه خو د پلار سترګې يې د ولورپربېمانه پيسو پټې کړې وې.

له واده يې څو مياشتې نه وې تېرې شوې چې سلما د لومړي ځل لپاره خپل خطرناک پلا ن عملي کړ او د تل لپاره يې له خپل مېړه نه ځا ن خلاص کړ.

داسې وو چې يوه شپه يې مېړه په خواږه خوب اوده وو نو د تمانچې په مرمۍ يې د هغه د خوب موده د ابديت لپاره وغځوله.

د خپل خاوند د ګنو شتو سره له يوه بل نوي ملګري سره وتښتېده له دويم مېړه سره يې همداسې لوبه وکړه د پيسو په وړلو يې له درېيم ملګري سره واده وکړ.

نو رسلما د اهېر کړې وو چې هغه څوک او د چارلورده د هغې په سريوازې د پيسو او شهرت ګټلو خمار خو روو خو په څنګ کې يې د خپلې ژبې او ښکلا له جادو هم پوره کار اخيست خپل کور او خپلوان ترې هېروو او د ښکلا په زور به يې په خپل نوي خاوند هره پرېکړه منله.

پوره يو کال يې له درېم مېړه سره تېرکړ هرورځ به يې د ښار په پارکونو کې ورسره مازديګري چکرونه وهل خو په دې يوه کال کې هم د اولاد مورنه شوه يوه ورځ د خپل خاوند سره له چکره وروسته د ښار يوه هوټل ته د ډوډۍ خوړلو لپاره تللې وه چې د هوټل په د هلېزکې يېې په يوه ښکلي ځوان سترګې ولګېدې په هماغه سرسري کتو کې يې خپل د کاکا زوی سدوخان وپېژندلو هغه څوک چې د ماشومتوب ډېرې سپېڅلې شېبې يې ورسره تېرې کړې وې او بيا به د ژمي په موسم کې درې مياشتې د دوي کورته د درس و يلو لپاره راته.

د سلما په زړه کې د درد يوه څپه تېره شوه سدوخان ته يې په ځېرځېر وکتل په سترګو کې يې سره وپېژندل خو سدوخان په حيرانۍ سره راپاڅېد سلما او د هغه خاوند ته يې ستړي مشي وويل او بيا په بې صبرۍ د سلما خواته ورلنډ شو.

ا خردومره بې حيايي او سپيتوب تا دافکرهم ونه کړچې اخر د چالوروې او څه دې وکړل ؟

مونږه په ښارکې پښتو او پښتونواله وبايلله خو عزت مو په خپل لاس کې وو.

سلما وخندل..........

سدوصيب دا زړې خبرې دي ما درته وېل چې غواړم ژوند مې د يوه ښکلي فلم په څېروي ما هماغسې ژوند وکړ د ژوند په فلم کې زه اوس هم يوه اتله يم.....

د سدوخا ن په سرد رد راغی خپله ماضي ورته ديوه خوب په څېرښکاره شوه او اوسنۍ خبرې هم ورته د خوب نه کمې نه وې په فکرونو کې ډوب شو خو سلما بيا وروړاندې شوه خاوند ته يې په اشاره د تلو امرو کړ او سدو ته يې مخامخ وکتل.

زه بيا هم له تا سره په پخوانيو وعدو ولاړه يم خو شرط به دا وي چې زما دليدو په اړه دې چاته له خولې حرف هم ونه باسې .کنه زه بيا دا هېروم چې د دواړو وينه يو وخت سره شريکه وه.

سدوخان لا پسې حيران شو سلما ورته بيا هم د پخوا په څېرښکلې ښکاره شوه لکه وخت چې د هغې د ښکلا له بـــڼ نـــه يـــوه پاڼـــه هـــم نـــه وي رېږولـــې.

د ښار په ځينو هوټلونو او پارکونو کې يې بيا بيا سره وليدل سدوخان که هرڅو ل وو خو سلما احساس کړه چې هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library

ديوې ښکلې ښځې تر څنګ يوه ماهره قاتله هم ده خواوس يې چې په رېښتني ډول په يوه داسې چاړه بايللی چې ماشومتوب يې ورسره تېرشوی وو.
دلومړي ځل لپاره ديوې رېښتنې مينې احساس چې پخواني يادونه اوسني خواږه دواړه پکې وو هغه دې ته مجبوره کړه چې خپل دربېيم مېړه هم دنورو دوو په برخليک اخته کړي.
همداسې وشول دهغې دربېيم مېړه په روغتون کې له ځوخبرو وروسته دژوند وروستی سلګۍ وهلې او دله خپل رېښتينې مين سره له ښاره دتېښتې په حال کې وه چې پوليسو دواړه ونيول او دويمه ورځ دپوليسو له جنايي څانګې دلته دښارتر ټولو لوی زندان ته راوړل شول.

۱۳۸۸\۱\۱۵
جلال اباد هاشمي پلازه

له وينې ترمينې
دښارلوی روغتون او زمونږ پوهنځی دومره سره نږدې وو چې ډېر ځله به دناروغانو ويرونه اودعا جلوناروغانو دامبولانس اوازونه رارسيدل يوه کوچنې واټ ته ورته ساحه زمونږ دپوهنځي اورغتون ترمينځ پرته وه. په اونۍ کې داسې ورځې ډېرې کمې راتلې چې د روغتون نه دې دناروغانو کوم پايو از زمونږد ټولګي ور دوينې دغوښتلو لپاره ونه ټکوي له دغه ټک ټک سره زمونږ ټولګيوال دومره عادي شوي وو چې کله به کوم بل سړي يا دپوهنتون لوړپوړ مسئولينو اونا شنا استادانو هم وروټکولو نو هرچا به فکرکاوه چې بيا کوم کس دناروغ لپاره وينه غواړي.خو يوجوت تو پيرداوو چې دناروغ ياپايواز رنګ به دمړي په څېرزېړاوښتی ؤ او په دمه دمه به يې داسې خبرې کولې چې ژوړې بې وسۍ او عذرته ورته وې. دغه کسانو ته به ډېرځله جدي استادانو سخت ځواب ورکاوه خوځينې استادان چې لږنرم غوندې ؤ او يا هم دخپل ژوند په اوږدو کې له داډول ستونزې سره مخ شوي ؤنو اجازه به يې ورکړه چې ټولګي ته راننوځي دهغه په لاس کې به يې دروغتون رسمي پاڼه وکتله بيابه يې زمونږخواته راوکتل هلکانو دغه فلانی ګروپ وينه څوک لري له دغه کاکا سره ترروغتون لاړشئ او دخدای په رضاوينه ورکړئ.کومې شوخې نجلۍ يا هلک به نرې پوښتنه وکړه.
استاده څومره وينه غواړي ؟
داستاد په ځای به همغه کس ځواب ورکړ.
ورېبودومره وينه پکارده باوروکړی چې دروغتون دوينې په بانګ کې يو ځاڅکې وينه هم نشته کنه دلته نه راتلم
.
دوينې اندازه به که له دوه سوه سي سي کمه وه نوډېرټولګيوالو به لاسونه اوچت کړل چې ډېربه پې شوخ هلکان وو. اودابه يې له ټولګيو نه دوتلو ښه بهانه ګڼله ځکه چې دغيرحاضرۍ وېره به يې نه وه خوکه دوينې اندازه به يې له دې نه لوړه وه چې اکثره وخت يې پنځه سوه سي سي ښودله نو په ټولګي کې به يوډول چوپتيا خوره شوه هرچابه ځان دمېزپه سرله خپلوکتابونو او کتابچو سره بوخت کړ بيا به نو په دې وخت کې استاد په کوم چاغ هلک لاس کېښود که دوينې ګروپ به يې ورسره برابرهم نه ؤمجبورؤچې داستاد غوښتنه ومني نوويل به يې چې دوينې په بانګ کې دوينې ګروپ بدليدلی هم شي.
دوينې غوښتونکې اکثره بوډاګا ن اوزړې ښځې وې داسې هم کېدل چې يوکس به ولاړ وو اوبل به کاغذ په لاس دټولګي په مخ کې دوينې غوښتولو لپاره ودرېده کوم شوخ هلک به لاړه وکړاوپرې غږبه يې کړ........

(c) ketabton.com: The Digital Library

وه کاکا ! دلیلیې دلوبیا اووریجو به څه وینه وي هسې نه خدای مکړه ناروغ دې لابد ترکړي په دې خبره به ټولو وخندل خو استاد به چې د قرباني، خواخوږي، خیراو ثواب خبره رامنځته کړه نو د ټولو خندا به غلې شوه.

یوه ورځ مې ښه په یاد دي د پنجشنبې ورځ وه دویم ساعت وو استاد دیونان دلرغونو ادیانو په باب خبرې کولې او داتن د ربا النوعانو څیرې او کړه وړه یې یې زمونږ لپاره انځورول.

رب النوعه یو ډول غیرطبعي انسان وو چې هغوی خپل خدایان ګڼل د لمر راختو او لمرپریوتو، ورځې، شپې د باران او طوفان راوستلو قدرت یې په لاس کې وو ډېرځله به چې دد غه وګړو په وجود کې د بوډاتوب نښې څرګندې شوې نو د رب النوعه له عبادت نه به خلاص شول له خپلو دوستانو سره به یې مخه ښه وکړه داتن د پراخه ځنګلونو خواته به ولاړل هلته به یې له دنیاوي چاروزړونه راټول کړل د نفس په تزکیه او ریاضت به مشغول شول خو کله به چې ښخي بډاتوب او د مرګ ترپولو ورسېدل نو بیا خپله د عبادت وړ ګرځېدل نوروو ګوړو به یې د رناوی او عبادت کاوه او د رب النوعه مقام ته رسېدل. استاد دې ځای ته رسېدلي وو چې د ځنګ کړکې یې ټک ټک شوه له ټک ټک سره له سلګونو پېړیوو راندې زماني څخه بیرته حال ته راغلو.

یوه د پاخه عمرخاوند چې په ږېره کې یې توراو سپین تارونه سره برابروو اوله څېرې نه کوم لوړرتبه مامور ښکارېده په لاس کې سپینه پاڼه استاد ته ورکړه استاد له سترګو تېره کړه او بیا یې مونږ ته وکتل او وویل !...مثبت B شپږسوه سي سي څوک حاضردی ؟

که څه هم کله مې وینه نه وه ورکړې خو ګوته مې اوچته کړه وروسته له ځان سره پښېمانه شوم خو استاد ورسره واستولم.

له راغلي کس سره دوینې د بانګ په ځای مخامخ دعا جلو ناروغانو یوې کوټې ته لاړم دداړو په ننوتلو یوه یو د پاخه عمره ښځه او دوه ماشوما ن چې د ناروغ کټ ته ناست وو پا څېد ل ما ته یې ښه راغلاست وویل.

بیا سپین ږیري کس چې زه یې راوستلی وم زما په اوږه لاس کېښود بچیه ! ته د یو هنتو ن محصل یې زه هم د پوهنتون پخواني استاد یم خو اوس شخصي کاراوبارلرم دامې مېرمن او دادوه مې زامن دي چې مشرایمل او کشراجمل نومېږي او داچې په کټ کې ناروغه پرته ده زما مشره لور رڼا جانه ده هسې خدای وساتلو له ترافکیې پېښې سره مخ شوي ؤ وینه یې ډیره ضایع کړې ښی مټ او پښه یې ډېر ژوبل دي امید دی چې ستا وینه به صحت ورکړي.

نجلۍ د پلار په خبرو سترګې وغړولې لومړی یې هغه بیا یې ما ته وکتل سره د دې چې په سترګو کې یې د درد څپې خورې وې خولاله وړاندې یو ډول عجیبه مننه او ځلا پکې نغښتې وه ماد غه ځلا حس کړه زړه مې ټکان وخوړ پلار یې خبرو ته دوام ورکړ.

بچیه ! په روغتون کې مې وینه پیدا نه کړه بانګ هم له وینې خالي شوی دی ځکه مې تا ته زحمت درکړ د وینې بانګ ته لاړوډاکتر شپږسوه سي سي وینه راڅخه واخیسته نږدې نیم ساعت بهرانتظار وم وروسته هغه کس بیا راغی زه د رڼا په فکرکې وم په زړه کې مې یو ډول نوي درد غزونې کولې چې هغه کس مې په اوږه لاس کېښود .

بچیه ډیره مننه!

د لو رحالت مې ښه دی خو د رڼا موریو ځل بیا ستا د لید لو هیله کوي زه هم بې له څه خبرې ورسره روان شوم د رڼا په کوټه کې ټول راته پا څېدل رڼا هم د بسترله بالښت یو څه سر راپورته کړ په ټیټ او ازیې مننه وکړه او بیا یې په سترګو لاس کېښود ه موریې ترخپل څنګ راته کېنا ستلو اشاره وکړه په څوکۍ کېنیناستم او بیا په خبرو شوه .

(c) ketabton.com: The Digital Library

بچېه ! ته محصل یې ستا له دغه قربانۍ مننه رڼالورمې سږکال له دولسم ټولګي فارغېږي بختوره ده چې ستاغوندې یوه همزولې یې وینه ورکړه مورېپه دې ښارکې مسافر یو کنه کومې خواته به مومنډې وهلې ستادغه قربانۍ به تل زموږپه یاد وي په دې خبروکې ووچې یوې نرسې درڼا موراوپلاربهرو غوښتل په کوټه کې زه ،رڼا اود هغه دوه ورونه پاتې شوو.

درڼاسترګې نیم کښې پاتې وې په ټوله کوټه کې وژونکې چوپتیا خوره وه شیبه پس یې ترژبې لاندې وویل مننه......اونوم...دې ؟

پوه شوم چې دنوم پوښتنه مې کوي ځواب مې ورکړ

احسان.

بیایې وویل

ښکلی نوم دی.

یو شېبه بیاچوپتیاشوه زړه مې راغونډ کړترې ومې پوښتل.

زخمونه دې درد کوي ؟

ځواب یې راکړ.

زخمونه به مې ښه شي خوفکرکوم چې یودرد به دتل لپاره زما په وجود ې پاتې شي.

کوم درد ؟

دوره خواته یې وکتل اوبیایې په ډېرزحمت سترګې ماته راواړولې.

دومره بې غوره ېږه مه هغه درد چې تا راکړاوستا له وینې سره یوځای زما په وجود کې خورشو.

په ټول وجود کې مې یوډول تودوخه خوره شوه په لومړي ځل مې رڼا ته دزړه په سترګوو کتل اوددغې درد په مانا پوه شوم.

هغې بیاخبروته دوام ورکړ.

احسانه ! ته اوس هغه یوه شېبه وړاندې نااشنا زلمی نه یې داسې ښکارې چې دډېرې مودې نه دې پېژنم خویوه هیله درڅخه کوم.

ورته مې وویل

کومه هیله ؟

احسانه ماخوبه کله نه هېروې ؟

له ځان سره حیران وم دومره زراوداسې خبرې دیوخوب غوندې ښکاره شوې په همدې ذهني ګډوډۍ کې ډوب وم چې بیایې خپله خبره تکرارکړه.

څنګه غلی شوې ؟

ځواب مې ورکړ.

نه ستا هیرول........ اوس زما له واکه وتلي دي

رڼاوخندل مخ یې په مړوند پټ کړلنډه شېبه بیا چوپتیا خوره وه خوډېرزربې روغ لاس ترڅنګ ایښې لاسي بکس ته وراوږد کړ په یوه پا ڼه یې دوه نمبرونه ولیکل بیایې پاڼه ماته ونیوه.

دازماتیلفون.......

خبره یې نوه بشپړه کړې چې موراوپلاریې راننوتل موریې درڼا په تندي لاس کېښود اوپلاریې زمامخې ته په کوچنې میزدمیوو کڅوړه کېښوده دمیوو کڅوړه مې دهغه دټینګارسره سره بېرته ورکړه اوورته مې وویل چې دې ته زمانه رڼازیاته اړتیالري تاسې چې ځودلته وی زه به موهره ورځ پوښتنه کوم او د رڼا احوال به اخلم

(c) ketabton.com: The Digital Library

له ټولو سره مې مخه ښه وکړه کله چې له کوټې و تلم رښامې بیا له سترګو تېره کړه تندی یې غوړېدلی وو او په سترګو کې یې ګڼې هیلې په موسکا وې.
له روغتونه د پوهنځي په لور روان شوم ایله وپوهېدم چې خواږه دردونه هم شته او له وینې مینه څنګه را ټوکېږي
.

۱۳۸۷/۹/۱۹
چک وردګ

(c) ketabton.com: The Digital Library

## په اوښکو لمدې تابلوګانې

دلومړی ځل نه وو چې دنقاشۍ په نندارتون کې دهغه تابلوګا نوترټولوغوره اولومړۍ جایزه ګټله
. ددغه ښارپه ډېرونندراتونونوکې دساحل تابلوګا نود لیدونکوپام ځانته راارولی وو
تېرکال دښارپه نندارتون کې دهغه یوه تابلوچې دیوه قبرترڅنګ په کې یوه ښکلې ددعاپه حالت کې انځورشوې
وه اوله سترګویې تررپاندوبیرغونولاندې اوښکې روانې وې یوه شتمن شاعر دننداړتون دترټولو قیمتي
تابلوپه نوم له هغه نه واخیسته
دساحل دشهرت یوسبب داووچې په خپلوتابلوګانوکې یې تراژیدیکې موضوعاګانې وړاندې کولې اوبیه یې هم
. دومره لوړه نه وه
دنندارتون دخلاصېدونه وروسته هم دساحل ددغه نوې تابلو صفتونه دخلکوپه خوله وو په تابلوکې یوماشوم
دپسه له شانه رالوېدلی پړی یې هم دماشو م په غاړه کې دی پسه لوېرې په چمن کې منډې وهي اوماشوم چې
ژبه یې له خولې راوتلې په ځان پسې راکاږي
داسې معلومېږي چې ماشوم په پسه سورشوی اوله ډېرې مینې یې دپسه پړی په خپله غاړه کې اچولی پسه په
چمن کې دکوم پسه له ناڅاپي الوت نه وېرېدلی اوله خېزسره یې ماشوم هم له شانه رالوېدلی اوس چې پسه
هرڅومره منډې وهي له شانه یوڅه ورپسې تړل شوي دي اونه ترې خلاصېږي په دې تابلوڅوک دومره زرنه
پوهېږي خوله ژورفکرنه وروسته دیوه کوچني ماشوم اویوه ضدي پسه دمینې دکیسې له انجام نه خبرېږي
ساحل خپله هم په دغه تابلوکې کارېدلي هنرته حیران وو اوپه نندارتون کې یې دخلکو دبې ساري مینې
. اوتشویق له کبله ورته هغه ټولې شېبې دخیال په څېرښکارېدې
په خپل مېزیې اېښې تابلوګانې سمې کړې اوله ځان سره یې غلي غلې کومه سندره زمزمه کوله شاته یې ډډه
ووهله اوترژبې لاندې یې په خنداوویل
( چاویل چې کوږ بارترمنزله نه رسېږي))
ام......زه وایم زمااصلي تابلوګانې که هلته یوسم کتل څه چې دخلکوزړونه به له خندا ورته وچوي اوپه
. څپېړوڅپېړوبه زمانه هم کومه بې رنګه اوبې خونده تابلوجوړه کړي
داټول دهغه لېونۍ زوردی چې تابلوګانې یې دشهرت اسمان ته وخېژولم دښارپه شتمنوخلکوکې راځم دهغې په
څېرنجونې راته اوس هرځای سلام کوي خودلاخبره هم نه ده حتی په دې به هم وي خبره چې دضدي پسه
تابلوساحل دخلکوپه وړاندې چېرته ورسولو اودمینه والودچکچکوشوریې اوس هم له غوږونونه دی وتلی په
همدې فکرونوکې ووچې دکوټې ورټک ټک شو یوه ښکلې نجلۍ رانوته ټوله په سروجاموکې نغښتې وه خوپه
تندي کې پرېشاني اوخفګان دواړه له ورایه برېښېدل دساحل په لیدویې پښه دوره په دړه ولګېده وروسلام یې
وکړ اودسلام دمېزمخې ته ودرېده مخ یې لوڅ کړاوساحل ته یې وکتل
......مبارک بیاهم
ساحل خپل تندی تریوکړاومېزپه سرله رنګ لړلوکاغذونوسره بوخت شو
.بیایې ترژبه لاندې ځواب ورکړ
دڅه مبارکي نېږدې ووچې خلک مې په تابلوپورې وخاندي ،داځل خونه تابلووه اونه مابلو چې ته بیامبارکي هم
راکوي هسې بې ځایه دې دومره زحمت پرې اېستلی وو اوبیادلته راتګ دې هم ددې لپاره دی چې ماوشرموې
دنجلۍ په سترګوکې اوښکې راماتې شوې دوره په لوردوه درې قدمه لاړه اوبیایې ساحل ته راوکتل

(c) ketabton.com: The Digital Library

نه دروغجنه ماهمداشېبه په تلوېزيون کې وکتل چې په ننداراتون کې زما ضدي پسه تابلوته لومړی مقام ورکړل شو تابياهم زماسره جفاوکړه
تېرکال دې هم مزارته ولاړه تجلۍ تابلوپه خپل نوم وپلورله داځل دې بياهم ددغه تابلوسره هغه چاره وکړه. څوک به خبرهم نه وي چې دکال دغه غوره تابلو دچاپه ګوتوجوړه شوې ده
زه دشهرت وږې نه يم يوازې ستامينه غواړم تاهغه ځل اود دې تابلودلومړي نمبرګټلوپه اړه دزيري راکولوپه ځای دروغ وويل هغه هم په دې سبب چې زه به له تانه دتابلوګانو دپيسو نه څه وغواړم دنجلۍ اوازنورله قهراوغوصې نه ژړااوکريږوته ورته کېده دوره په لورلاړه زه نورستانه يم ته يونقاش نه يې يودروغجن يې دوره نه بهرپه انګړکې يواوازجګ شو ساحل وخندل خوبيايې زرځان جدي کړ په منډه له څوکۍ پاڅېد انګړته ورغی نجلۍ په انګړکې پړمخې په خوروورو تابلوګانوپرته اوڅوتابلوګانې يې په اوښکې لمدې کړې وې
١٣٨٨-٢-۴
ننګرهارپوهنتون

ورانګه اونکريزې

(c) ketabton.com: The Digital Library

په تاوخانه کې هره خوا دلمدو نکریزو بوی ولګېد له تبۍ ګرد چاپېره ناستو ښځو ټولو یو بل ته دخوښۍ سترګې واړولې مرجانې ابۍ ځیراغ ته نیژدې په یوه لویه کاسه کې نېکریزې لمدولې له ځان سره غلې غلې بوړنېده لکه دنورو خبرو ته یې چې هېڅ غوږ نه وی نیولی.

دمجلس دښځو سپږمې چې دنکریزو له بوی سره بلدې شوې نو بېرته یې له مرجانې ابۍ نه سترګې واړولې او په خبرو شولې کله کله به په تاو خانه کې دخنداګانو داسې آوازونه جګ شول چې بل غږ به هېڅ نه اورېدل کېده هرچا دسبانی اختر په اړه تودې خبرې کولې.

وړانګې ته چې نور دهغوی خنداګانو خوند ورنکړ نو شاوهوا یې مړې سترګې واړولې له ځایه پاځېده دتاوخانې په کونج کې یې سره بالښت ته ډډې و وهله خپل تور پړونی یې له ښی پلوه ور ټول کړ خپل پرې شوی لاس ته یې په ځیر ځیر وکتل او بېرته یې په پړونی کې پټ کړ په سترګو کې یې رڼه څاڅکی دڅراغ رڼا ته وځلېدل دنېکریزو بوی چې نور هم تېز شو غلې له ځایه پاځېده له تاوخانې و وته او په انګړ کې یې په مخ یخه هوا ولګېده دسپوږمۍ رڼا ته هرڅه روښانه ورته ښکارېدل دڅاه په خوا یې نرم نرم قدمونه اېښودل هره شېبه یې غوږونو ته دخوښۍ د ډزو غږونه رسېدل لږ چې نوره هم وړاندې لاړه په انګړ کې دڅاه تر څنګ دکلا دېوال ته د دېوال په تیاره سیوری کې کېناسته له سترګو یې بې اختیاره یخې یخې اوښکې روانې وې خپل پرې شوی لاس ته به یې چې پام شو زړه به یې دکانې په څېر کلک حس کړ دتاوخانې له کړکۍ دخنداګانو آوازونه دنکریبو له ښکلی بوی سره یو ځای را تلل زړه یې غوښتل چې په زوره زوره وژاړی خو بیا به یې اوښکې وچې کړې سر به یې په زنګون کړ نه پوهېده چې څه وکړی د ډزو غږونه به چې دهغې په غوږو ولګېدل نو دخپل چپ لاس دشهادت ګوته به یې په غوږ ومنډله.

څو شېبې نوې تېرې شوې چې دکټې ور خلاص شو مرجانه ابۍ له کوټې را و وته دڅیراغ رڼاته عجیبه ښکارېده دواړه لستوڼی یې بډ وهلی وو ګوتې یې په نکریزو لړلې وې زړوکی یې دسپین سر په څنډه بند وو دانګړ خواته په بېړه راغله دلوړې برنډې په سر ودرېده.

! وړانګې وه وړانګې

څه شوې؟ چېرته یې؟

وړانګې دخپلې مور مرجانې ابۍ غږ ښه واورېده خو ځان یې کوڼ واچاوه ساه یې هم نرمه نرمه وښکله په هوا کې له ډزو څخه وروسته مرمۍ دسکروټو په څېر یو په بل پسې تېرېدې وړانګې به دسترګو له کونجو ور وکتل بیا به سلګو واخیسته.

مرجانې ابۍ بیا نارې کړې

!وه وړانګې

څه بلا وخوړې........ څه شوې ولې غږ نه کوې؟

وړانګه له خپل قصده پښېمانه شوه له ځایه پاځېده داسې لکه چا چې په زور لټولې وی

څه وایې دغه یم دڅا په غاړه

را شه لېونۍ لاس دسور کړه

نه ادې نه یې سور کوم

وی لورې بلا د واخلم اختر دی بیا لوی اختر ثواب لری نکریزې خو له جنته راغلې دی

...ادې ورکې کړه نه یې سور

مرجانه ابۍ یې په خبره کې ور ولوېده

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډېرې خبرې مه کوه لاونګ ماما د داسې کشمیرۍ نکریزې را لېږلې دی چې تر اوسه به چا لاس نه وی پرې سره کړی.

نه ادې زما نه خوښېږی لاس مې همداسې سپین ښه دی.

مرجانه ابۍ له برنډې را کوزه شوه د وړانګې په خوا ورغله وړانګه یې په تندی ښکل کړه او تر لاس یې ونیوه چې ته نه ځې زه د بیایم

مرجانه ابۍ او وړانګه دواړه تاو خانې ته ننوتل په سپږمو یې بیا دلمدو نکریزو تود بوی ولګېد هرچا په خپلو لاسونو یخې یخې نکریزې اېښودلې خو دوړانګې له سترګو مړې مړې اوښکې یو په بل پسې روانې وې په ستونی کې یې ترخې ترخې سلګۍ ښکته پورته کېدې.

مرجانې ابۍ د وړانګې لاس د نکریزو کاسې ته ورکش کړ خو وړانګې په ټول زور وخپل لاس دخوشی کولو ناکامه هڅه کوله نه یې سور کوم نه یې سور کوم بلا په دې نکریزو...

مرجانه ابۍ په قهر شوله

وه تندر د و وهه په سر کې دې سپین ولګېدل خو دماشوم توب له خویو نو وانه وښتې درته ومې ویل چې ثواب لری ثواب په زور یې در باندې سورکوم وړانګې خپلې اوښکې دګونډې په سر وچې کړې لاس یې دنکریزو دکاسې په سر دمرجانې ابۍ غېږې ته ور اوږد کړ چې لدې سره یې هماغه شېبې په خیال کې ور وګرزېدې.

*****

الوتکې یو ساعت مخکې له کلی تللې وې دکور دری واړه منګی یې له اوبو تش وو په کور کې یې ځاځکی او به هم نه وې دکلی په بر سر کې تر اوسه له کنډوالو ګردونه پورته کېدل لالا او مشر ورور یې ګل جان دواړه سهار وختی دنورو کلیوالو سره له کلی نه غروته ختلی وو مور یې )مرجانې ابۍ ( د اوبو تر ټولو لوی منګی چې په دې بادې له ځانه ګران ؤ ورکړ ترځو په منډه له ګودره اوبه راوړي په بیړه له دروازې ووته دکلې په کوڅو کې هېڅوک نه معلومېدل دلارې دځنګونو ونې دبمونو په پارچو داسې ماتې ماتې وې لکه چاچې په بېخ اره کړې وې څه چې نوره لاړه خپلې پېغلې همځولې صفیه او شریفه چې درازونو ملګرې یې وې ولیدلې دری واړه سره ملګرې شوې سترې مشې یې هسې په پټه خوله وکړل په خولو یې له وېرې مهرونه لګېدلی وو هغه کیسې یې نه کولې لکه پخوا به یې چې په خندا خندا دګودر په لارو کولې دری واړه ګام په ګام دګودر غاړې ته نیږدې کېدې ګودر ته چې ورسېدې نو دګودر اوبه دپخوا په پرتله څه خړې وې هغوی لا منګی نه وو ډک کړی چې د الوتکو غړونه پورته شول دکلی دمخامخ کنډو څخه دوې تورې الوتکې غبرګې را واوښتې شور ماشور شو شریفه او صفیه لکه ترهېدلې هوسۍ د یوې ونې تر څنګ پټې شوې دې چې دهغوی خواته ور منډې کولې قدم یې په ښویه تیږه وښویده شور ماشور دهرڅه فضا بدله کړه دګودر په اوبو کې ور لاهو شوه دګودر په کوز سرکې دشنو ځانګو له پاسه تورڅه شی راکوزېدل یو درز شو دوړې شوې تیاره شوه دګودر له پاسه دشنو ځانګو باران شو نوره په ځان نه وه پوهېدلې یو وخت یې چې سترګې وغړولې دخېمې په چت یې ستر ګې ولګېدې چې دې غره په لمن کې لکه وه په کټ کې پرته وه ټول بدن یې درد کولو دکلی ښځې ترې تاو وې ښی لاس یې چې پورته کړ ډېر سپک ؤ ،

دپخوا په څېر یې په سپین مړوند کې بنګړو شرنګ ونه کړ مړوند یې ټول په سپینو جنډو کې پېچل شوی ؤ ، یو یو ځاځکی وینه ترې څڅېده ښی سپین لاس یې لکه چې دګودر کبانو ته پاتې ؤ په خېمه کې دټولو ښځو له سترګو اوښکې روانې وې.

یوه میاشت وروسته چوړه وه خو یو څه یې دتل لپاره بایللی وو هغه یې خپل ښی مړوند ؤ ، دپېغلتوب او ځوانۍ نیمه خوا ژوند ور په یاد شو دپردي دیار دمهاجرت جونګړې او نورې مجبورۍ ټول ببل ببل ورپه یاد شول دځوانۍ شوخه دوره، نهیلۍ، یوازېتوب بېرته خپل رنګ کلی ته په کږو وږو لارو راستنېدل، بیا هغه ورځې چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

هره ګړۍ به يې دکور دروازې ته کتل او دخپلو ريبارانو دلارو څارل چې ريبار به کله لار هم د دوی کورته نه ورغلطوله دکلی زلميانو هم نورې سترګې نه پسې وړلې پسې کتل به يې هم نه.

کوم ريبارته به چې چا دا ورياده کړه نو ريبار به پزه غونجه کړه ما يوبه (ده نجونې خو څه کمې ندی دخپلې شوخې خو معيوبې ځوانی دغوټی مړاوی کېدل او بيا په سرکې يې دسپينو تارونو زرغونېدل، چې تر نن پورې نهيلې په خپل کورکې ناسته وه.

دا ټول يې په خيال کې دفلم په څېر وګرځېدل ټال يې وخوړ ټنډه يې دمرجانې ابی په وچ ولی ولګېده پورته يې ترپ کړل.

مرجانې ابی ترڅنګ ورته را وکتل څه کړې لورې ويده شوې دادی لاس دې سور شو جنډه ترې تاوومه چې کالی دې سره نکړي لږ شېبه وروسته يې دمور له مخه لاس را کش کړ په سلګو سلګو له ځا يه پاڅېده.
۱۳۸۳-۰۷-۰۹

(c) ketabton.com: The Digital Library

خوب راته ځراغ مې ګل کړ خپلې دخوب خونې ته روان شوم سترګې مې له ډېرې بې خوبۍ را باندې درنې وې په دهلېز کې څو ځله له دېواله سره ټکر شوم خو لاس به مې تکيه کړ او بېرته به را سم شوم تپه تياره وه په لاس تپولو سره مې دخونې ور پيدا کړ تر لاستې مې څو ځله را کش کړ خو را خلاص نشو څو شېبې په تپه تياره کې دوره تر شا ودرېدم ورسته را په ياد شول چې تېره ورځ سهار مې موټر د سورلۍ لپاره ښار ته روان کړ نو دخونې ور مې هم را سره کلپ کړی ؤ په جيب مې لاس و وهلو دکليانو اوږد زنځير مې را وښکلو سترګې مې وار په وار له خوبه ډکېدلې يوه غټه کيلي مې په کلپ کې ور دننه کړه خو ور خلاص نشو بيا مې څو نورې کلياني په کلپ کې وازمايلې خو پرې خلاص نشو په دهلېز کې ښکته روان شوم او دکليانو اوږد زنځير مې په ګوتو کې اړولو را اړولو دکور ټول غړی مې ويده وو په کړکيو پردې کش وې په اوږده دهليز کې بې دهغوی له خراری بل څه نه اورېدل کېدل دخوب بله درنه څپه را باندې راغله او سر مې له دېوال سره ولګېده بېرته دخپلې خونې په خوا راغلم يوه بله کيلي مې په کلپ وازمايله داخل يې له واره خرپ شو او کلپ خلاص شو لاحول.....مې و ويل او خونې ته ور دننه شوم نه پو هېږم چې نن شپه ولې برق نهؤ را غلی چې هره خوا تپه تياره وه کنه هسې خو ځوان وم سترګې مې روغې رمتې وې يو اځې دخوب ښاپريان پرې ناست وو.

تاسې به وايې چې ولې دومره خوب درته؟ پوښتنه مو په ځای ده خوب په دې راتله چې دا دوې شپې مې ډېرې په بې خوبۍ تېرې کړې وې په خپل موټر کې مې يوې لرې سيمې ته څو تجاران وړی وو شپه او ورځ مې مزلونه کړی وو او بل دا چې نن مې هم تر نيمې شپې دموټر په کرايه کې راکړل شوی خواره واره نوټونه شمېرل.

دخوب په کټ باندې اوږد وغزېدم څو ځله مې اوږده سا واخيسته پلار مې په وړوکتوب کې څو کليمې را ښودلې وې هغه مې له ځان سره په بيړه و ويلې په ستر کو کې مې همغه اوږدې لارې او سورلۍ تاوېدلې سرمې هم راباندې چورلېده څو ځله پړمو ښکو واخيستم او بېرته به را ويښ شوم څو شېبې پس د همدې پړمو ښکو په څپو کې لاهو شوی وم چې ورو شانې ټک ټک مې تر غوږ شو خو داځل تر لمړی وار يو څه اوچت ؤ له ځايه ور پاڅېدم په تياره کې ورو و تلم د کوربېرونی انګړ ته چې ورسېدم ټک ټک مې بيا تر غوږ شو نه پو هېدم چې دا غږ د څه شی دی خو دو مره پوه شوم چې غږ دکلا دلويې دروازې شاته دی ها خوا مې يو څه رڼا تر سترګو شوه مخکې له دې چې غږ پرې وکړم لمړی مې د دروازې له چولو دهغوی خوا ته ور وکتل هلته دوه تنه ولاړ مالومېدل ديوه په لاس کې زوړ تيلې څيراغ ؤ او بل يې تر څنګ غلی ولاړ ؤ يو دبل سره ورو ورو غږېدل څو شېبې غلی ودرېدم بيا مې پرې غږ کړ.

څوک يې؟

له څه چوپ تيا وروسته غلی او غمجن غږ پورته شو

وروره مسافر يو

بيا مې ترې وپوښتل

چې مسافر ياست دلته څه کوئ؟

:هغه نفر چې تېلی څيراغ يې په لاس کې ؤ لږڅه دروازې ته را وړاندې شو په ژړغونی غوندې آواز يې و ويل

.استاده مړی راته شوی يو ازې ستا مرسته غواړو

دهغوی څبرې رېښتيا هم راته خواشينې ښکاره شوې او داسې نه مالومېدې چې ګنې په کوم نيت د دلته را غلی وی له دروازې نه ور و وتلم له هغوی سره مې سترې مشی وکړل څبرې يې رېښتيا هم دبل ډول خلکو نه وې چې .سړی د وېره ترې ولری

بيا مې ترې وپوښتل

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښه ورونو څه کیسه ده ؟
!دوی په نمجنو سترګو یو بل ته وکتل او وروسته هغه چې ځیراغ یې په لاس کې ؤ داسې په خبرو لګیا شو
وروره ته مو هم له خوبه و ویستلې دښار په هغه وړاندې روغتون کې مو یو خپلوان مړشو ته خو پوهېږې چې
هدیره هم له مونږ نه لرې ده غواړو همدا اوس یې خاورو ته وسپارو ځکه ډاکټر ویل چې جسد یې ډېر ژوبل شوی
دی باید همدا نن شپه یې خاورو ته وسپارئ بل موټر مو پیدا نکړ له تا څخه مرسته غواړو که چېرې مو هدیرې
.ته دقبر کیندلو او ضروری شیانو دوړلو لپاره ورسوې
هغه بل ملګری یې هم په خبره کې ور ولوېد هو موترمه )محترمه ( استاذه دموټر د چې هرڅومره کرایه کېږی
.دهغه دوچند واخله خو ته دخدای درضا په خاطر دا کار وکړه
ما چې دهغوی دا خبرې وا وربدې نو ماته هم دیو کال وړاندې پېښه سترګو ته ودربده خپل دتره زوی نجیب را په
یاد شو چې په همداسې یوه شپه په یو روغتون کې مړ شوی ؤ او دموټر دپیدا کولو لپاره مې ډېرې دروازې په
. همداسې شپه ټکولې وې
په هغوی مې زړه وسولو نو ځکه مې ورته هو کړه ببرته دخوب خونې ته راغلم کالی مې واغوستل په دهلېز کې
چې را تېرېدم چو په چوپتیا وه دخپل تګ څخه مې هېڅوک خبر نه کړل دګراج څخه مې خپل موټر را و ایستلو او
په ګل ځیراغونو مې له دروازې بېرون ودراوه دوی همغلته منتظر ولاړ وو یوه راباندې غږ کړ
استاذه خدای دخیر درکړی ریښتیا چې همدردی لرې بیا یې جیب ته لاس کړ دکلدارو دوه زرګون نوټونه یې
راکړل او زر مې دبغل په جیب کې کېښودل په زړه کې ډېر خوشاله وم ځکه زما دوه زره کلدارې نه بلکې پنځه
سوه کلدارې کرایه کېده دکلا دروازه مې وتړله هغوی په موټر کې ناست وو موټر ته مې حرکت ورکړ او روان
شوو
دوی یوازې په موټر کې دمړه شوی کس خبرې کولې ډېر غمجن مالو مېدل یو څه فاصله مې چې و وهله دسړک په
غاړه یو بل سړی هم را ښکاره شو زه یې هغه ته ودرولم هغه هم یو پوخ سړی ؤ او شنه غونډې ږیره یې دموټر
ځیراغونو ته مالومه شوه دا هم د دوی ملګری ؤدسړک څنګ ته یې څو غټې غټې پرښې، دوه بیرغونه، دوه
.کولنګ او چړی ابښی وو دغو دری واړو دا شیان موټر ته را جګ کړل او حرکت ته مو بیا دوام ورکړ
دوی ډېر ستړی مالو برېښېدل په توره شپه کې مخ په وړاندې روان وو نیژدې چې نیم ساعت وروسته د یوې
لوېې هدیرې لمنو ته ورسېدو په هدیره کې نور هم وړاندې لاړو دهدیرې یوې څنډې ته مې موټر دهغوی په
غوښتنه ودراوه دا وخت سپوږمۍ هم د مخامخ غره په سر را ښکاره شوه وړانګې یې په ټوله هدیره ولګېدې او
یو څه رڼا شوه دوی دیوه زاړه قبر تر څنګ دقبر په کیندلو شروع وکړه او د سپوږمۍ وړانګې ورو ورو خړو
.ګردونو پوښلې یو دهغوی څخه دشیانو په کوزولو پیل وکړ او دموټر څخه یې ټول شیان کوز کړل
زه هم غلی دموټر په سیټ کې ناست وم سر مې په اشترنګ تکیه کړی ؤ دموټر له شیشو څخه دسپوږمۍ
وړانګې را لوېدلې وې اوس سپوږمۍ دغره له سر څخه ډېره لوړه ښکارېدله دهدیرې چوپتیا دهغوی دکولنګ
او چړیو کړنګ او کړونګ ماته کړې وه یوه نرم باد کله ناکله دقبرونو بیرغونه هم رپول هغوی پټه خوله دقبر په
کیندلو لګیا وو څو شېبې پس دقبر په غاړه ډېرې خاورې انبار شوې وې څو دانې لوی لوی هډوکی هم پکې
دسپوږمۍ رڼا ته مالومېدل داسې ښکارېده چې هغوی په کوم زاړه قبر برابر شوی وو دا هرڅه مې لیدل خو بیا
هم نه وېرېدم او په دې انتظار وم چې بیرته ځان کور ته ورسوم دخپل موټر په اشترنګ مې سر تکیه کړی ؤ اوږدې
پړموښکۍ وړی وم څو شېبې وروسته چې را په خود شوم نو هغوی دری واړو قبر کیندلی ؤ او دموټر تر څنګ
یې یو دبل سره خبرې کولې یوه زما خوا ته اشاره وکړه او څه یې و ویل زه سم دلاسه له موټر نه ور ښکته شوم
دهغوی خوا ته ورغلم خو پوهېږې چې په دې وخت کې څه وشول؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغوی دری واړو پر ما را ټوپ کړ زما لاس او پښې یې را ته په یوه کلکه رسۍ وتړل ما هر څو زور وکړ خو په لاسو کې مې هېڅ زور نهٔ هر څو مې چې چیغې کړې له خولې مې غږ نه ختلو په ټولو یې دکیندل شوی قبر په خوا ورواخیستلم او په ډېر قوت یې په لحد کې تخته کړم دهغوی څېرې اوس دخوارانو په شکل نه وې تورې بلاوې راته ښکارېدې هر یوه پرښې را وړلې او زما په سر یې اېښودلې یوازې زما دسر پرښه پاتې وه چې بیا مې یوه چیغه وکړه خو له خولې نه مې هېڅ آواز اوچت نه شو دهغوی څخه یو قبر ته را کوز شو او هغه دوه زره کلدارې یې چې دکور په دروازه کې را کړې وې هغه یې زما له جیبه وښکلې او په کړسنده خندا یې وویل.

بد بخته زمونږه پیسې دومره مفتې در ته ښکارېدې، هغه دوه نور هم ور سره په خندا شو ل او یوه بله پرښه یې په لحد کې زما په مخ را کېښوده دا ځل یې ټول په لحد کې پټ کړلم دسپوږمۍ رڼا مې له اوښلنو ستر ګو سره وروستۍ مخه ښه وکړه په یو تنګ څلور کونجه ځای چې ټول تپ اوتورۀ بندی شوم دوی په وار وار په ما باندې خاورې را اچولې او تیاره هم ورسره ورو ورو ډېرېده تر دې چې دچریو کړنګا نوره ورکه شوه څو ځله لټ په لټ وا وښتم په زوره زوره مې چیغې و وهلې خو هېڅ فایده یې را ته ونکړه سترګې مې له خاورو ډکې شوې څو ځله مې ښه زور وکړ خو ایله یوه پښه مې له رسۍ څخه را خلاصه کړه چې خلاصولو یې لا د هدیرې شپه راته سخته کړه دلحد هغه پرښه چې د پښولو پاسه مې واقع وه را ماته شوه خاورې په را تویدو شوې تردې چې نورې مې پښې هم نه شوای خوځولای له څه ځنډ وروسته مې بیا سر را پورته کړ خو ټک یې شو تندی مې په پرښه ولګېد ، په مخ باندې مې وینې راغلې او په خوله کې مې تودې تودې حس کړې خپله دخوب خونه را په یاد شوه ګورم چې سهار مې پلار را غږ کړي خو زما غږ نه ورځي بیا ور را خلاص کړي ګوري چې په ځای کې نه وم مور او مشر ورور مې هم راشي ټول ځایونه را پسې وګوري خو زه او موټر دواړه په کور کې نه وو وروسته دوی ټول را پسې لا لهانده ګرځي او هره خوا مې پوښتنې کوي.

له دغه لنډ فکر څخه مې بیا یوه چیغه وکړه خو هېڅ غږ مې له خولې نه اوچت نه شو په سلګو مې پیل وکړ او خپله ملامتي مې ببرته په خپل ځان ور واچوله همداسې په سلګو کې پروت وم چې دلحد پرښه مې په تندي را ولوېده او لویه چیغه مې وکړه په خپله چیغه له خوبه را ویښ شوم په کټ مې دلمر وړانګې را لوېدلې وې مور مې دکټ تر څنګ ولاړه وه او خپل دروند لاس یې زما په تندي اېښی ؤ.

دقولک کلی ۵-۲-۱۳۸۲

د وروستي فصل یو څو پاڼې...

(c) ketabton.com: The Digital Library

ژوند د هيلو او دردونو ، ماتو اونېکمرغيو هغه ناموزون تکراردی چې کله انسان د هستيو تر اسمانه ورسوي او کله بيا همدا مغروره انسان د خپل غرور له نيلي را ښکته کړي.

ژوند د هدف او مبارزې نوم دی ،ژوند هغه ازمون ته ورته دی چې هره شېبه يې په تلاش او هڅه کې تېرېږي د هدف او زيار په دې ډګر کې بيا هغه څوک بريالي کېږي چې د دې ټولو ناخوالو او بدمرغيو په وړاندې په ټينګه مبارزه وکړي. دژوندانه همدا ناموزونې شېبې ډېر ځله د بشر برخليک ټاکي او د تاريخ پاڼې وګرځي دا ډول رنګينو او دردونکو شېبو يو ماهره عکاس او نځورګر ښاغلي ګل رحمن رحماني هم دی چې په خپل هنري ځواک يې دژوندانه ډېرې شېبې انځور کړې دي

ښاغلي رحماني په خپلو لنډو کيسو کې دافغاني ټولنې له ډېرو ناخوالو او ناويل شوو خبرو پرده پوره کړې او ډېرو هغو بې وسو انسانانو دزړه او ازونه او هيلې يې په کې رانغښتې چې د پوره کېدو په ارمان مړژواندې پرتې دي.

ستاسې په لاس کې دلنډو کيسو همدا ټولګه د همدا ډول ترخو حالاتو انځوردی ټولې نوې او خوندورې کيسې دي چې ليکوال د ۱۳۸۰ لمريز کال څخه را وروسته ليکلې په هره کيسه کې ليکوال هڅه کړې چې دخپلې کيسې لپاره نوې سوژې او موضوعات راونغاړي په نوې بڼه يې بيان کړي او له تکراري او سولېدلو موضوعاتو ځان وساتي ډېرځله دټولنې ترخه واقعتونه دټولنيزو دودونو اوزورواکو له وېرې پټ پاتې کېږي خو ښاغلي رحماني دخپلو کيسو دموضوعاتو په ټاکنه کې له زورتياکار اخيستی دی ادبيان ژپه يې ورکړې. دلنډو کيسو ترڅنګ دشعر درنګينې نړۍ سره هم اشنايي لري نو ځکه خوېې ماهرانه انځورګري ورکړې ده اودرازاونياز ډېرخواږه انځورونه يې پنځولي دهغه په ډېرو کيسو کې هنري رنګ په واقعت ډېرزورور دی او يو پټ درد او ځوړلني په کې نغښتې چې دکيسو دا ځانګړنه يې ماته دتکړه شاعر پير محمد کاروان لنډې کيسې را يادوي په کتاب کې ځينې داسې کيسې هم شته چې ليکوال په کې خپل هنري ځواک په پوره زور کارولی چې کيسو يې رومانتيک او فلسفي رنګ غوره کړی.

په کتاب کې ټولې اولس خوږې کيسې راټولې شو ې چې هره يوه يې په لوستلو ارزي. دولسمشراند يښنې کيسه داوسني حالت انځوروړاندې کوي اوزمو ږ دمشرانو هغه بې باوري چې ددوی سره دخپل ځان او اولس په اړه موجوده ده او ددواړه ترمينځ يې د ېوال درولی وړاندې شوی ، مزدوري ديوه محصل کيسه ده چې څنګه په خپلو درسونو کې په مخ تللی او هره جمعه دواټ پرغاړه درېږي اومزدوري کوي غوګو يوه بله کيسه ده چې په يوه دفترکې پېښه شوې دکيسې کرکټر دنورو دخندا او مسخرو سبب کېږي بيا په لاره کې له موټره ښکته کېږي او غوږ ترې غوڅېږي.سپين دېوالونه ديوه کلي نه دکليوالو دکو چېدو داستان دی چې بهرنيان يې دخپلې فوځې اډې دپرا خولو لپاره له کلي وباسي ،

دځنګل ماران ديوه شپانه خوندوره کليوا له کېسه ده چې ښه شپېلې غږوي اوبيا څنګه دمارانو خوراک کېږي په کېسه کې هغه مشهور متل په اثبات رسېږي چې وايي)) دمارګير مرګ له ماره وي ((

وه دتورو غرو شپونکيه دا ديوه خوار اوبې و زله شپونکي کېسه ده چې په يوه کلي کې دکليوالو دمهربانۍ لاندې رالوېږي خوا خېر دبهرنيانو په بمبارۍ کې دخپلې رمې سره يوځای و ژل کېږي په کيسه کې دکليوالي ژوند خواږه انځورونه راغلي دي او داو سنو څومخو سياستوالو بې رحمانه کړنو ته هم پکې نغوته شوې کتيبه ليکونکی دسو ژې په لحاظ ورستي فصل ته ورته يوه کېسه ده يو کتيبه ليکونکی هره شېبه دخپل مرګ فکر کوي هغه هره ورځ ډبرليکونه او شناختې ليکي او دځان لپاره يې له وړاندې يوه کتيبه ليکلې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

زنداني هم دافغاني ټولنې ديوه محروميت تت او ماهرانه انځور دی په دې کې يوکس په کلونو کلونو له کوره ورک او بندي وي کله چې دولسمشر د فرمان په اساس ازادېږي کورته ځي خو څوک يې نه پېژني بېرته نهيلی روانېږي او پرمخې رالوېږي په افغاني ټولنه کې اوس هم داسي کسان شته چې له کوره ورک دي شپه او ورځ يې دراتلو انتظار کېږي

وه شينواري ماما ! په بهرني هېواد کې ددوه افغان محصلينو دمسافرۍ داستان دی چې په څه ډول له يو او بل نه دتل لپاره بېلېږي او خفه کېږي.

شهزاده هم ښکلي او په زړه پورې کېسه ده دادانسانانو ترمنځ دباور دنه شتون او دبې ځايه شکونو په باب ليکل شوې کېسه په پيل کې فوکلوري رنګ لري خو پايله يې دتوقع په خلاف وي

وروستی فصل ددې ټولګې مرکزي کيسه ده ديوه ورځپانه ليکونکي دنارامه ژوند ماهرانه انځورګري ده هغه يوه کېسه ليکلې چې خپله دی يې په ورستۍ برخه کي ورستي فصل ته ورته کېږي.

بې وطنه په پاکستان کې دمهاجرت په مهال ديو افغان هلک او پاکستانۍ نجلۍ دمينې تت انځور دی چې دکرکې نه په مينه بدلېږي خو دمينې لومړۍ ورځ يې دبېلتون لومړۍ ورځ شي.

دزخم ننبه ديوې ښکلې خاطرې په بنسټ ولاړه کيسه ده چې په ښوونځي کې پېښېږي په کيسه کې جنګ رامينځ ته کېږي دوه ملګري زده کوونکي په ټولګي سره خفه کېږي لسګوه کلونه وروسته يو بل په يوه محفل کې ويني اودتندې دزخم په ننبه يوبل پېژني چې پای يې ډېرخوندوردی.

په زندان کې زېږېدلی ماشوم زمونږ دهېواددزندانونو انځوردی اوپه زندان کې دماشومانوژوند څرګندې چې دښوونې اوروزنې څخه بې برخې پاتې کېږي.

له وينې ترمينې داپه پوهنتون کې ديوه محصل کيسه ده چې يوې ټيپې نجلۍ ته روغتون کې وينه ورکوي اوبيا په کيسه کې راځي چې له وينې څنګه مينه پيداکېږي.

زه نه غواړم نورپه هره کيسه خبرې وکړم ددې کيسو لوستل اوربدونکوته پرېږدم چې قضاوت وکړي خدای دې وکړي چې دپښتوژبې زولۍ نورد شعرونو په څېرله خوندورونثرونوهم ډکه شي په پای کې ښاغلي رحماني ته ددې نوې ټولګې مبارکي وايم اوپه دې ډګرکې يې دلابرياوپرمختګ هيله کوم.

قلم يې روان اوتاندا وسه.

مجيب رحمن احساس

ننګرهارپوهنتون

ليليه دويم بلاک ، څلورمه خونه

١٣٨٨-١٢-٦

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**